دپیغمبر (صلی الله علیه وسلم) **اندیښنه**

حضرت عمر(رضی الله عنه) وایی: د الله رسول(صلی الله علیه وسلم) فرمایلی دی: «زه ددغه امت(اسلامی امت) په هکله له هر هغه منافق څخه اندیښنه لرم، چې خبری په حکیمانه کوی، خو عمل په ظالمانه کوی.»

(دغه حدیث امام بیهقی روایت کړی- مشکوة)

شریعت

اونیزه

د افغانستان د طالبانو د اسلامی تحریک نشراتي ارګان

احمد شاه ((وحدت)) Ahmad Shah (Wahdat) A. K. Pi

چی وایی هغه وکړی!

لوی خدای(جل جلاله) فرمایلی دی: «ای هغو کسانو چی ایمان یی راوړی دی(ای مؤمنانو!) ولی هغه څه وایاست چی عمل ورباندی نه کوي؟»

(الصف -۲)

لومړي کال | یوولسمه ګڼه | دوشنبه د ۱۳۷٤ش کال دکب (حوت) د میاشتی (۱٤) | د ۱۹۹٦ میلادی کال دمارچ (٤) | د ۱٤۱٦ق کال دشوال (۱٤)

د اسلام خادم ملامحمد عمر«مجاهد» د کشمیر مجاهدینو ته وویل:

مونږ به په خپلو وینو د ستاسو مرسته کوو

مونږ په داسی حال کی جهاد پیل کړ چی دالله تعالی له کومك نه پرته مو هیڅ نه لرل

زه داډ درکوم چی ډیر ژر به دالله تعالی په فضل سره په آزاد سرینګر او جموکی د کلمی طیبی توغ ورپیږی

د کندهار دولایت نه د (شریعت اونیزی) خبریال خبر راکوی چی د کشمیر نه راغلیو مجاهدینو د اسلامی تحریك امیر مجاهد ملامحمد عمر اخند سره وکتل خبرځاي زیاتوی واکتنه د اسلامی تحریك په خاص میلمستون کی ترسره شوه، پدی کتنه کی د کندهار ولایت د امنیت قوماندان محترم عبدالصمد صالح هم حاضر ؤ. د راغلیو مجاهدینو په نمایندګی محترم مولوي صاحب عبدالجبار خبری وکړی او ویی ویل زمونږ دراتلو هدف دادي چی له تاسو محترمو سره له نژدی او وینو! او زیاته ئی کړه چی: زمونږ او ستاسو هدف یو دي چی دخداي (جل جلاله) په ځمکه د خداي(جل جلاله) د نظام پلی کړو. وروسته د اسلام خادم ملامحمد عمر«مجاهد» دراغلیو مجاهدینو دراتلو څخه مننه وکړه او ډیری د تسلي خبری یی ورته وکړی، په خبرتوکی داهم ورته وویل: مونږ په داسی حال کی جهاد پیل کړ چی دخداي تعالی د نصرت څخه پرته نور هیڅ مادی اسباب راسره نه وو خو دلوي خداي(ج) په نصرت سره تر ډیره حده کامیاب شو او زمونږ دطالبانو تر کنترول لاندی سیمرکی ټول مسلمانان د خوشحالي په فضاء کی ژوند کوی. خبرځاي زیاتوی محترم امیرصاحب د راغلیو کشمیری مجاهدینو د هر راز همکاری ژمنه وکړه او ویی ویل: مونږ به په خپلو وینو ستاسو مرسته کوو، زه واډ درکوم چی ډیر ژر به د الله تعالی په فضل سره په آزاد سرینګر او جمو کی د کلمی طیبی توغ ورپیږی. وروسته د کشمیرنه راغلی مجاهدین بیرته رخصت کړاي شول.

د اسلامی تحریك دعالی شوری د دارالانشاء مسؤل محترم مولوي وکیل احمد «متوکل» کندهار ته ورسید

د کندهار نه د (شریعت اونیزی) خبریال خبر راکوی چی ۱۳۷٤ هجری لمریز کال د کب د میاشتی په لومړي لسیزه کی د اسلامي تحریك د دارالانشاء د مقام مسؤل محترم مولوی وکیل احمد متوکل د عمری له سفر نه کندهار ته راورسید. زمونږ خبریال لیکی محترم مولوي صاحب د خپل سفر په اړه اوویل: زمونږ سفر خو سعودی عربستان، مدینی منوری او جدی شریفی ته د عمری د سرته رسولو په منظور ؤ او هلته مو د زیاتو افغانانو سره ولیدل او له هغوی سره مو په مختلفو موضوعاتو خپل نظریات تبادله کړل. محترم مولوی صاحب زیاته کړه زمونږ له ملاقاتونو څخه هلته افغانانو خورا زیاته خوښی څرګنده کړه او هم یی د طالبانو د اسلامی تحریك سره د سر او مال د قربانی چمتووالی وښود او ویل یی لوي خداي (ج) د وکړی چی په ګران هیواد کی ددغه پاکو او په دین مینو طالبانو په واسطه یو سوچه شرعی نظام رامنځ ته شی ترڅو ټول افغانان دشرعي نظام لاندی د سوکالی شپی صبا کړی.

د ټول ډول وسلو له زده کړی وروسته (۷۰) تنه مجاهدینو بری لیکونه تر لاسه کړل

له هرات نه د (شریعت اونیزی) خبریال خبر راکوی چی د روان هجری لمریز کال

(٤مخ)

د کندهار والي ملامحمدحسن آخند په وراندی د کشمیر او پاکستان د علماء کرامو ډلی وویل:

مونږ چی کله دطالبانو تر قبضی لاندی سیموته داخل شوو د زیاتی خوشحالی احساس مو وکړ او دخدای(ج) قانون مو دخدای(ج) په ځمکه کی عملی ولید

دکندهار نه د (شریعت اونیزی) خبریال خبر راکوی چی د ۱۳۷٤ لمریز هجری کال د کب دمیاشتی په لومړیو شپوکی د کشمیر او پاکستان دعلماء کرامو یوه وفد کندهارته تشریف راوړی وو او پرون ئی د عالی شورای په خاص میلمستون کی د عالی شورای د سرپرست او دکندهار والی محترم حاجی ملامحمدحسن اخند سره وکتل.

(٤مخ)

په هرات کښې یو تن قاتل قصاص کړای شو

د هرات له ولایت نه د (شریعت اونیزی) خبریال خبر راکوی چی د انجیل ولسوالي یوتن اوسیدونکی چی پخوایی دوه تنه بی ګناه مسلمانان وژلی ؤ څه موده وړاندی د هرات ولایت د امنیی قوماندانی د با احساسه مسؤلینو لخوا ګرفتار او شرعی محکمی ته تسلیم شو. له تحقیق او پلټنی وروسته په قاتل د قصاص حکم صادر شو او د زرګونو خلکو په وړاندی د هرات په ستیډیوم کښی د مقتولینو د وارثانو لخوا د محمدی شریعت د حکم سره سم قصاص کړاي شو.

مولوی احسان الله (احسان) در صحبت مطبوعاتي خود گفتند:

خبر آماده گی حمله، تحریك اسلامی طالبان بر جلال آباد، دروغ محض است

*** شورای عالی تحریك به ارتباط حمله بر جلال آباد نه جلسه ئی داشتند و نه فیصله ئی**

*** همه مسلمانان و بسیاری قوماندانان ولایات مشرقی با تحریك (طالبان) علاقمند و وابسته میباشد**

خبر نگار ما خبر میدهد که مولوی احسان الله (احسان) عضو شورای عالی (تحریك اسلامی طالبان) در صحبت مطبوعاتي خود گفتند: ما تصمیم حمله بر جلال آباد را نداشته و نه شورای عالی ما به این

(ص٤)

ملاامیرمحمد(احمدی) قوماندان خط اول فرقه، ریشخور درگفتگو با شریعت:

رادیو کابل در امواج دروغهای شاخدار

خبر قتل اینجانب با پنجاه تن از هم سنگرانم بکلی عاری از حقیقت میباشد

مسؤول محاصره، اقتصادی شهر کابل اداره، ربانی میباشد

محترم قوماندان ملاامیرمحمد(احمدی) که عضویت شورای نظامی تحریك را افتخار دارند و یکی از قوماندانهای برجسته و مشهور

ص٤

په کندهار کښې حضرت احمدامین جان (مجددی) یوی درندی غونډی ته په وینا کښې:

زه په روسیه کی د افغانی بندیانو په هکله د طالبانو د اسلامي تحریك د مشرانو د کوښښونو او ښه نیت مننه کوم

له کندهار نه د (شریعت اونیزی) خبریال خبرراکوی چی د روان هجری لمریز کال د لیندی د میاشتی په (۲۱) نیټه کندهارته د کابل د حضراتو د خانقا جانشین ترمشری لاندی په روسیه کښی د افغانی بندیانو د وارثانو یوله راورسیده؛ چی څه موده وړاندی د طالبانو د اسلامی تحریك د عالی شوری د غړیو په شمول د علماء کرامو لخوا د شوری په ځانګړی

(٤مخ)

د خوست ولایت د ښوونی او روزنی مسؤول د شریعت اونیزی سره په مرکه کی:

د خوست په ولایت کی پنځلس زره زده کوونکی په زده کړه بوخت دی

د شریعت اونیزی خبریال د خوست ولایت د ښوونی او روزنی له مشر قاری محمد هارون سره د هغه ولایت د ښوونی او روزنی د کارو چلند په هکله مرکه کړی ده چی دا دی متن یی درنو لوستونکو ته وړاندی کوو:

(حلورم مخ)

دربانی داداری یو قوماندان، سرورخیل بیجارو موټر په قمار کښی وبایللو

په کابل کی د ربانی داجرتی ټاټلانو اجتماعی او اخلاقی جنایات خپل اوج ته رسیدلی دی

د کابل د ښار څخه یوی باوری سرچینی د (شریعت اونیزی) ته د یو رپوټ په ترڅ کی لیکی چه په دغه ښار د ربانی دمسلطو واکمنو هر اړخیز جنایات او په ځانګړی توګه اجتماعی او اخلاقی جرمونه دومره زیات شوی چه نور نو هر لوي او واړه ته برملا دی.

(٤مخ)

سرمقاله

د رباني اداره ګی، په افغانستان کی د روس د غلامی پنځم پړاو

په دې تیرو څو ورځو کی ډیرو نړیوالو او سیمه ایزو مطبوعاتو د روس د حکومت او رباني د اداره ګي ترمنځ پټ اړیکی را ښکاره کړل. دغو مطبوعاتو پخپلو رپوټونو او مقالو کی د روسانو د مشر یلتسین هغه وینا ته اشاری کړی چه پدی اخیرو کی یلتسین ددغه ملك پارلمان ته کړیده. د روسانو مشر یلتسین د خپلی وینا په ترڅ کی په کابل ښار مسلط ټولکوال چه د بدماشانو د یوی اتحادیی په توګه هلته سره راغونډ شوی دی، زمونږ د هیواد قانونی او مشروع حکومت یی بللی دی، په همدی توګه یلتسین پخپله وینا کی د کابل اداره کی د روسانو دکټو ضامنه او ساتندویه معرفی کړی ده او زیاته کړي یی ده چه د روسانو ملی مصلحتونه ددی غوښتنه کوی چی دکابل د فعلی واکدارانو ملاتړ وکړی شی، هغه ویلی مونږ به ددغه اداری سره خپلی سیاسی او نظامي مرستی جاری ساتو.

که څه هم چه دکابل اداری او روسي حکومت ترمنځ اړیکی کومه پټه او پناه مسئله نده او نه وه، ځکه داخو ټولو ته معلومه ده چه زمونږ د وطن او وطنوالو هغه ستونزی چه نږدی دوه لسیزی یی دوام وکړ او په مونږ یی خپل وطن تنور کړیدی، ټول د روسانو د مداخلو او لاسوهنو نتیجه ده، خو له هغه وخته چه په کابل کی د کمونیستی حکومتونو بدلون ته بنه ورکړه شوي ده او د کمونیستانو سره مسلمان ډوله قطاع الطریق او لوټماران یوځای شویدی، روسانو او د کابل مشرانو دا اړیکی ډیرو پراندی ساتلی او لکه د لمر غونډی روښانه دلائل او شواهد یی په دوو ګوتو پټول.

مونږ له پخوا څخه دا خبره کوله چه زمونږ په هیواد کی پلی فساد د روسانو د اعمالو او عمالو زیږنده ده او د رباني مسلمان ډوله اداره د کمونیستی حکومتونو پنځم پړاو تشکیلوی او دغه ضعیف العقیده

(ص۲)

تبدیلی او ټاکنی

د شریعت اونیزی خبریال د افغانستان د طالبانو د اسلامی تحریك له مرکز قندهار نه خبر راکوی چی د هلمند په ولایت اونورو ولسوالیوکی لاندی تبدیلی او ټاکنی ترسره شوی دی:

ملا عبدالباری اخند: دهلمند ولایت دوالی په توګه

ملا عبدالکریم اخند: د پنجوائی دولسوال په توګه

ملا احسان الله اخند: د شین ونډو پخوانی ولسوال د ګرشك د ولسوال په توګه

ملا حبیب الله اخند: د ګرشك د فرقی پخوانی قوماندان د سنګین د ولسوال په توګه

ملا خان محمد اخند: د لشکرګاه د امنیی دقوماندان په توګه

ملا عبدالله اخند: د لشکرګاه د امنی پخوانی قوماندان د کندهار د پنجوائی ولسوالی د امنیی قوماندان په توګه

ملا خیر الله اخند: د غورك پخوانی ولسوال د اسلام کلاء دولسوال په توګه

مولوی صاحب کریم الله: دغورك د ولسوالي دولسوال په توګه. خبر ځاي زیاتوی نوموړی ټاکنی د اسلام ستر خادم مجاهد ملا محمد عمر اخند هلمند ولایت ته له تشریف وړلو او دکارونو د ښه سمون په خاطر ټولو مسؤلینوته له ګټورو لارښوونو او راستنیدو وروسته ترسره شوی دی.

دلوګر او چهار آسیاب د سړك دترمیمولو کار پیل شو

د لوګر د ولایت نه د شریعت اونیزی خبریال خبر راکوی: د لوګر ولایت ښاروالی د کابل او لوګر سړك په ترمیمولو پیل کړي دي او ان شاء الله ډیر زر به له لوګر نه تر چارآسیابه پوری عمومی سړك په جوړیدلو سره به دمسلمانو خلکو ترانسپورتی ستونځی اواری شی او همدا رنګه د ښاروالي ریاست تصمیم نیولي چی د لوګر ولایت مرکزی مارکیټ تر لوي کال پوری ترمیم او فرعی بازارونه ورته را نقل کړی ترڅو د لوګر او شاوخوا سیمو د خلکو لپاره هر ډول آسانتیاوی برابری شی، دنورو ستونزو د ختمولو په هکله هم لازم تصامیم ونیول شول.

د پکتیکا ولایت دیوسف خیلو غیورو خلکو دطالبانو په حمایت کی درنه غونډه وکړه

د پکتیکا ولایت نه د شریعت اونیزی خبریال خبر راکوی چی د روان هجری لمریز کال د کب د میاشتي په اوائلوکی د یوسف خیلو غیورو مجاهدینو د طالبانو د اسلامی تحریك په تائید کی یوه درنه غونډه وکړه، خبرځاي زیاتوی دغه غونډه د عیسی په کلی کی وشوه په غونډه کي د نوموړی ولایت د مختلفو ځایونو قومی مشرانو او روحانیونو، سپین ږیرو، او نورو خلکو د پکتیکا ولایت عمومی امر مولوي محمد فضل فیضانی، د ولایت معین مولوی سید نور، د اعمار مجدد رئیس مولوي محمد عرفان د مشخیلو ولسوال مولوي عبدالمنان او دولسوالی قاضی اودارتباطاتو مسؤل ملاامیرجان ثاقب هم ګډون کړي ؤ.

هریوه په خپل وار سره حاضرینو ته خپلی علمی وینا ګانی واورولی او هم یی د رباني نام نهاده اداره محکومه او غیر اسلامی وبلله، تینګار یی وکړ چی یوازی د طالبانو اسلامی پاڅون به پدی غم ځپلی هیواد کی د لوي خداي (جل جلاله) قانون پلی کړی او ملك به د نورو وطن پلورونکو او ورانونکو څخه ژغوری. همدا راز د ښوونی او روزنی په اړه مفصلی خبری وشوی او تصمیم ونیول شو چی د ۱۳۷۵ هجری لمریز کال د وری میاشتی په ووښتیو وختونو کی به د طالبانو د اسلامی تحریك له پروګرام سره سم مدرسی او ښوونځی فعالیتې په پای کی ټولو راغلیو خلکو د طالبانو د اسلامي تحریك نه د خوښی څرګندونه په لوړو آوازو بدرګه کړه او ژمنه یی وکړه چی زمونږ سرونه او مالونه ددغه اسلامی تحریك په خدمت کی دی.

د مسلمانی عقیده

دویم مخ

په اسلامی نړی کی دناسیونالیزم سرطانی جراثیم

۲ مخ

د هند جنایاتو یوه لنډه کتنه

(دویم مخ)

ملی گرایی در خدمت صلیبیها

ص۲

دطالبانو د اسلامی پاڅون ضرورت او مشروعیت

(دریم مخ)

روسانو چی د ربانی د اداری حمایت اعلان کړ، دغه ددغی اداری د زوال زیری دی

(دریم مخ)

دا هم یو حقیقت

(دریم مخ)

طالبان نه غواړی په هغو لارو تګ وکړي چی د جګړو زیږنده وی

«د اسلام د خادم ملامحمد عمر«مجاهد» له وینااو څخه»

شریعت

دامتیاز خاوند: د افغانستان د طالبانو اسلامی تحریک
دتاسیس کال: ١٣٧٤ هـ ش
د لیکوال هیئت تر کتنې لاندې
مسؤول مدیر: الحاج مولوی احمدجان
تیلفون: ٨٤٠٣٧٨
آدرس: په پیښورکښی دطالبانواسلامی تحریک نمایندګی
دیوی ګڼې بیه: په هیواد کښی (٣٠٠) افغانی
په پاکستان کښی (٣) کلداری

سرمقاله ...

، او د هغی ملګری پوازی د جهاد او مجاهدینو د بدنامی لپاره دغه
... اخل کړي شویدی خویعضو خلکو په دې خبری ته د شك او تردید
په سترګه کتل.

کله چه د روسی مرمیو او وسلو بار یکه الوتکه د طالبانو دځواکونو لخوا په قندهار کی کوزه کړیشوه نو ټولو نړیوالو ته د روسي هغه مداخلی چه زموږ په وطن کی کولی ځرګندی شوی خود کابل مشرانو او روسي واکدارانو ددغه طیاری دندی ته د قانونی تجارت بڼه ورکوله، نو دا چی اوس د روسیې جمهور رئیس پخپله خوله دا خبره ښکاره کړه چه دوی به د کابل داداری مرسته کوی، ځکه دغه اداره ګی هغوی خپله بچو نی ګڼی اوس به وګورو چه ربانی د یلتسین د اظهاراتو په اړه څه عکس العمل ښایی. داسی معلومیږی چه رباني ته لدی پرته بله لار نده وریاتی چه خپله رسوایی اوشرمندګی پری جبران کړی، غیرلدی چه ځان چپ ونیسی او داسی وښیی چه هغه پوند اوکوږ دی نه یی څه اوریدلی او نه په څه خبر دي.

ښه شوه چه د ربانی کرغیړنه څیره زموږ روس دښمنه ولس او ټولو نړیوالو ته بربنډه شوه او هغه څه را برسیره شو چه پرون ربانی او د هغی روسی بادارانو پټول. نور نو ددی هیڅ شك پاتی ندي چه د ربانی اداره ګی لکه د ترکی، امین، ببرك او نجیب د حکومتونو په څیر یوه خارجی ګوډاګی اداره ده، نو اوس موږ د خپل ملت څخه پوښتنه کوو چه آیا ددغه پلورل شوی اداری په ضد قیام مشروعیت لری او که نه؟ او ددی پوښتنې ځواب به خپلو درنو وطنوالو ته پریږدو چه هغوی د خپل برداشت او د خپل جهاد د اصالت په رڼا کی دا پوښتنه ځواب کړی.

دمسلماني عقيده

نهمه برخه

غازی خیل

دوم‌دور:

د لویو اصحابانو رضی الله تعالی عنهم (خلافت راشده) په زمانه کی له ١١ هجری کال نه تر ٤٠ هجری کاله پوری د شرعی حکمونو د عملی کولو(تشریع) ځرنګوالی:

١- د سیاسی صورت حال لنډیز:

سیدنا رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم دآخرت سفر خوښ کړ او ولاړ، حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه مسلمانانو دده صلی الله علیه وسلم له دفن نه مخکی دده خلیفه مقرر کړ، په دغه وخت کي ځینی خلك له اسلام نه وګرزیدل او زکات یی نه ورکاوه، مګر دده رضی الله تعالی عنه کلك عزم او د ایمان قوت ددغه مصیبت علاج وکړ: په مرتدانو پسی یی لښکری واستولی او بیرته یی سمی لاری ته راوستل. له هغه نه وروسته یی د اسلامی دعوت د خپرولو لپاره د عراق او شام په لوری د سپیڅلو مجاهدینو(اصحابو کرامو او تابعینو رضی الله تعالی عنهم) لښکری واستولی تر څو د فارس او روم کبرجن واکداران مات او د اسلام حکم ته یی ایل کړی، خو دغه کار لا تمام نه ؤ چی دی د هجرت په دیارلسم کال وفات شو. حضرت عمر رضی الله عنه یی دځان خلیفه وټاکه. بیا د حضرت امیر المؤمنین عمر فاروق رضی الله تعالی عنه د خلافت په وخت کی دده په لاس باندی الله تعالی ډیر فتوحات راوستل، دلمرخاته خواته مسلمانان د فارس په دولت او ډیرو ځایونو برلاسی شول او تر آمو دریا په پوری، د شمال خواته تر سوریی(شام) او ارمینیا پوری ورسیدل او دغرب لوری ته یی مصر لاندی کړ، دده رضی الله تعالی عنه په وخت کی لوی لوی اسلامی ښارونه لکه فسطاط(اوسنی قاهره)، بصره او کوفه ودان او لوی شمیر مسلمانان پکښی میشته شول چی ډیر یی اصحاب کرام وو رضی الله تعالی عنهم او په دغه وخت کی له عربو نه پرته ډیر قومونه په اسلام مشرف شول.

بیا حضرت امیرالمؤمنین عمر رضی الله عنه د هجرت په دروېشتم کال د ذوالحجی په وروستیو شپو ورځو کی د کم یا زیات شپیته کلنی په عمر کی شهید کړای شو. د راتلونکی خلیفه ټاکنی لپاره یی شوری تعین کړه- رضی الله تعالی عنه-

د حضرت عمر رضی الله تعالی عنه له شهادت نه وروسته د څلرویشتم هجری کال په سر کی حضرت عثمان رضی الله عنه د ټاکلي شوری له خوا نه د اسلام خلیفه وټاکل شو، اسلامی فتوحات لمرخاته او لمرلویده خواته مخ په وړاندی وغزیدل، له بده مرغه د اسلام دغه دنګه او ښکلی مانۍ لا بشپړه شوی نه وه چی دننه له پلوه یی سخت درز وخوړ، هغه د امیر المؤمنین رضی الله تعالي عنه په ضد پاڅون ؤ، دا پاڅون د هغه چا له خوا نه پیل شو چی امیرالمومنین رضی الله تعالی عنه ښه نه ایسیده، بیا له دغه پاڅون سره له اسلامی لویو لویو ښارونو(بصری، کوفی، اومصر) څخه لویی لویی ډلی یوځای شوي او خبره دې ته ورسیدله چی حضرت امیر المؤمنین رضی الله تعالی عنه د پنځه دیرشم هجری کال د حج په شپو ورځو کی شهید کړای شو، رضی الله تعالي عنه .

په اسلام کی دغه لومړنی سبب ؤ چی مسلمانان سره یی تفاوته او په ډلو وویشل شول: یوه ډله چي حضرت عثمان رضی الله عنه ته په غوسه وو دده د شهات په سبا ورځ یی له حضرت علی رضی الله تعالی عنه سره بیعت وکړ، بله ډله چی د حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه قاتلینو ته په غوسه وو په حضرت معاویه رضی الله تعالی عنه پسی ودریدل چي د حضرت عثمان رضی الله تعالي عنه قومی ؤ، د لومړی ډلی مرکز کوفه د عراق -د هغه وخت- پایتخت ، او د بلی ډلی مرکز دمشق د شام-سوریې- پای تخت ؤ. د دواړو ډلو ترمینځ بغض او کینه زیاته شوه، یو په بل یی لعن او طعن سره وایه، تر دی چی خبره د (سهل صفین) نومی ځای لوی جنګ ته ورسیده، په دواړو طرفینو کي ممتاز اصحاب کرام رضی الله تعالی عنهم ولاړ وو مګر په جنګ کی یو طرف هم یو مخیزه بریالی نه شو، ځکه د شام طرف وویل چی د الله تعالی کتاب به په منځ کی حکم کړو، د عراق طرف ومنله، دغه تحکیم (واك ورکول) د شام د لوری په ګټه او د عراق د لوری په ضعف تمام شو، ځکه: د عراق په لوری کی یوه لویه ډله وه (خوارج) چي تحکیم یی نه خوښاوه او په جنګ یی ټینګار کاوه، دغی ډلی په حضرت علي رضی الله تعالی عنه پسی بد رد ویل پیل کړل او حضرت علی رضی الله تعالی عنه د شام د طرف له مقابلی نه په دوی مصروف شو، اخیر خبره دا شوه چي حضرت علي رضی الله تعالی عنه ددغی ډلی (خوارج) یوه بدبخت د څلویښتم هجری کال د رمضان په ١٧ په څو باندي شپیته کلنی کښي شهید کړ. له دی وروسته د مسلمانانو اکثریت په حضرت معاویه رضی الله عنه باندی راغونډ شول.

یادونه: د اصحابو کرامو رضی الله تعالی عنهم دغه جنګونه د چوکی او اقتدار یا مال او جاه لپاره بلکل نه وو، که هر مسلمان دغسي ګومان ورباندی وکړی هغه به په معنی کی هلاك شي بلکی د شرعی احکامو د تګلاژ(چلولو) لپاره وو، دوی مجتهدین وو دیوی ډلی اجتهادی نظر په هغه خوا او د بلی په دغه خوا تللی ؤ، دا د شریعت قاعده ده چی مجتهد که په اجتهاد کی خطا هم شي یو اجر لری، او که حق ته ورسیږی هغه دوه اجرونه لری، نو ځکه په رشید البیان کی راغلی دی:«که قاتل و که مقتول- دواړه وو په خدای قبول»

دغه عصر پای ته ورسیده مګر مسلمانان په دریو سیاسي ډلو وویشل شول: لومړی د مسلمانانو اکثریت چی د حضرت معاویه رضی الله عنه په امارت خوښ وو، دوم : شیعه: هغه څوك چي دامیر المؤمنین حضرت علي رضی الله تعالی عنه او دده د کورنی په مینه کی پاتی شول، دریم: خوارج: چي دواړو ډلو ته په غوسه وو،«ددغولولوهري یوی ډلی داسلامی احکامو په تشریع(قانون کولو) باندی ژوره اغیزه واچوله چي په راتلونکی دورکی به راشي.

ملی گرایی در خدمت صلیبیها

عبدالرحمن احمد هوتکی

(قسمت هفتم)

طوریکه جهاد مقدس و انقلاب عظیم اسلامی افغانستان مسلمان ومقاوم بنصرت خداوند جل جلاله قادر گردید که اعتماد و تکیه به نفس را به امت اسلامي باز گرداند و دراعماق ضمیر و وجدان افراد مسلمان نهال امید و آرزو را غرس نماید و تخم امید برافشاند و مرکز توجه عامه جهان گردد، دیگر به این جهادو ملت مجاهد امید های همه مسلمین و مستضعفین دنیا بسته گردد و راه نجات و عزت خودرا در راه و طریقي جستجو نمایند که افغانیان مجاهد انتخاب کرده بودند(جهاد) اما این اثر و باز تاب جهانی جهاد افغانستان که روي هم رفته خطر جدی را علیه نظام الحادی سیکولر حاکم برجهان متوجه ساخته بود از انظار دشمنان صلیبی اسلام به هیچ وجه پوشیده نبود. ازهمان آغاز طراحان یهودی استراتیژیهای مسئله افغانستان بسطح عمومی وکلی آن دو استراتیژی موازی باهم را هم زمان در قبال قضیه، افغانستان به خصوص بعد از تجاوز مستقیم نظامی روسیه بر افغانستان در پیش گرفتند.

الف: دفع تجاوز روسیه از افغانستان و جلوگیری ازپیش رویهای مزید آن درمنطقه.

ب: جلوگیری از نظام وحکومتیکه در نتیجه جهاد مجاهدین به میان خواهد آمد.

استراتیژی دفع و جلوگیری تجاوز، طوری پیاده شدن آن درعمل در نظر گرفته شده بود که در عین وقت هم زمان پلان و استراتیژی جلوگیری از بار ور شدن جهاد به سطح ملي و بین المللی آن بدون سر و صدا و مخالفت علنی با جهاد و مجاهدین که هدف مطلوب را برای اوشان بدست میداد. به اصطلاح بیك تیر دو فاخته را هدف میساختند: از یك طرف به کمك های سخاوتمندانه نظامی و مالی خویش که بواسطه حلقه هاي به خصوص پاکستانی بدست رس حلقه های جهادی روی پیشبینیهایی و اهدافی مشخص شان قرار میگرفت صفوف جهاد و مقاومت را علیه روسها تقویه میکردند که تجاوز روسها شدیداً منافع آنها را درمنطقه وجهان به تهدید جدي مواجه گردانیده بود، از طرف دیگر به واسطه همان تفنگ و کمك های مادی و نظامی خود از بار ور شدن جهاد بسطح اسلام و مسلمین جلوگیری میکردند. بشکلیکه توزیع مدارك مالی ونظامی آنها طوری عیار گردیده بود که در دراز مدت تدریجاً همه ارزشهای معنوی، اخلاقی و دینی که دراثر جهاد و دعوت اسلامی در حیات شخصی و فردی، اجتماعی و همه گانی مجاهدین و مردم مسلمان کشور رشد و رسوخ کرده بود تهدید به انحراف و نابودی میکرد که بدبختانه چنین شد، جهادیکه تمام مظاهر و اثرات الحادی، کفری و طاغوتی را از حیات شخصی واجتماعی مجاهدین زدوده بود، و آنرا به لباس تقوی ظاهری و باطنی آراسته بود، جذبه ایثار، قربانی، خود گذری را بشکل حاد آن درك و چی وجودش جای داده بود، فارغ از همه وسوسه های شیطانی غرض حاکمیت دین خدا از سر و مال خود بدون کمترین احساس ناراحتی و یأس با دهن پرخنده به طلب شهادت میرفت و حماسه های می آفرید.

طوری آنهمه ارزشهای معنوی را به گرداب محبت سیم و زر دنیوی، تن پروری، خود خواهی، جاه پروری و فساد اخلاقی پرتاب کرد و میدان رقابتهای گوناگون هوسهای شیطانی را میان اوشان طوری گرم کرد که برای دوست و دشمن حیرت آور و مبهوت کننده بود، با چنین وضع و حالت بد معنوی و اخلاقی نمیشد رسن اخوت، برادری، ایثار و گذشت، تفاهم و تساند میان حلقه های جهادي و مجاهدین دیرپای ماند و آتش رقابتهای مردود سیاسي، حزبی، قبیلوی ، قومی، لسانی، سمتی و... میان اوشان شعله ور نگردد.

دشمنان صلیبی اسلام و جهاد در تمامی چیزهائیکه بد پندارند و از آن خیلی نفرت کنند سر فهرست آن ممکن جهاد و مجاهد باشد و در تخریب و هدم پروسه جهاد و جهاد گری از برنامه حیات فردی و اجتماعی و به خصوص از برنامه های حکومتی و دولتی جهان اسلام و امت اسلامی اثر قوی و تجارب طولانی تاریخی داشته و دارند.

وضع و بافت اجتماعی و تاریخی افغانستان که یك کشور کثیر القومی است برای اوشان به خوبي معلوم و هویدا بود، که با مهارت عجیب و غریبی زیرکانه، بدون سر و صدا با همان سلاح و وسیله یی (ملی گرایی)که سلطه و سیادت جهانی مذهب عیسویت را در اروپا از بین بردند.و بعد از شکستهای که در جنگهای صلیبی مقابل اسلام خوردند و وادار شدند که به روش جنگ خود تغییر شکل بدهند(از جنگ برچه و شمشیر به جنگ عقیده و نظریه) رخ کردند و در نتیجه به همین اسلحه(ملی گرایی) سلطه جهانی اسلام را تضعیف کردند و به خصوص در صدد، که ما در آن قرار داریم خلافت اسلامی عثمانی را که یگانه سمبول قدرت نظامی و وحدت سیاسی مسلمین پنداشته میشد از پای در آورده بودند . به مقابله جهاد عظیم اسلامی ما که افتخار و سرمایه بس بزرگ همه، امت اسلامی پنداشته میشد

(ص٤)

دسیکولیریزم خطرته پام کوی!

په اسلامی نړی کی د ناسیونالیزم سرطانی جراثیم

مولوی عبدالحکیم «مجاهد»

دریمه برخه

عربی هیوادونه:

وروسته له دی چی عیسایان په صلیبی جګړوکی د مسلمانانو له خوا له سختی ماتی سره مخامخ شول، په اسلامی نړی کی یی د اسلامی یووالی، ورورولی او اسلامی خلافت دله مینځه وړلو د پاره خپله مبارزه د مسلمانانو په دننه کی دملت پالنی (Nationalism) له چاپنل څخه پیل کړه،او ددی کار د پاره یی لومړی په عربی نړی کی میشته عیسایان(نصاری) په ډیر مهارت سره په کار واچول، او د مختلفو سیمو د قومی مشرانو سره یی خپلی اړیکی ټینګی کړی، او د عثمانی خلافت په خلاف یی ددوی د عربي حمیّت او عصبیّت احساسات راوپارول. د خپلو فعالیتونو مرکزونه یی په فرانسه، سوریه، لبنان او مصر کی جوړ کړل، او هلته یی دډیرو پټو او ښکاره ګوندونو بنسټونه کیښودل، چی وروسته یی دډیرو عربي دولتونو په جوړه کولو او هلته د سیاسي قدرت د نیولو او لاسته کولو په پروسه کی مهم رول ولوبول، خو د ټولی لوبی په تنظیم او همغږی کی یوه انګریزی فوځی صاحب منصب«لارنس» مهم رول لوبولی دی .

ددی دپاره چی له یوی خوا لوستونکی خسته شوي نه وی او له بلی خوا یی ددغی استعماری وزدی دسیسی په هکله یو څه معلومات هم تر لاسه کړی وی، غواړم په ډیر مختصر ډول ددغو ملت پالو اما د استعمار په خدمت کی د لګیا څو مشهورو ډلو نومونه واخلم او وروسته د دوی هغه کفری او د اسلامی وحدت په خلاف تخریبی افکار او نظریات په ګوته کړم، چی اوس یی په اسلامی نړی کی د سرطانی میکروبونو او جراثیمو حیثیت غوره کړی او دغه د مسلمانانو اسلامی جسدیی د مرګونی مرض په بیماری باندي نیولی دی، چی علاج یی له یوه اسلامی باعمله، با تقوی او با درده انقلابی تحریك نه پرته نا ممکن ګرزولی دی.

١- الجمعیة السوریة: دغه ډله د بطرس البستانی او ناصیف الیازجی له خوا چی دواړه عیسایان ؤ، په کال ١٩٤٧ میلادی کی په دمشق کی رامینځ ته شوه، خو په کال ١٩٦٨م کی یوه بله ډله په همدغه نوم، په بیروت کی د سلیم البستانی او منیف خوری له خوا چی دا هم عیسایان ؤ تأسیس کړی شوه.

٢- الجمعیة العربیة السرّیة: په کال ١٨٧٥م کی تشکیل شوه، چی په دمشق، طرابلس او نورو ځایونو کی په فعالیتونو بوخت وه.

٣- جمعیة حقوق الملة العربیة: دغه ډله په کال ١٨٨١م کی تأسیس شوه، چی شعار او هدف یی د مسلمانانو او عیسایانو یو ځایکول او یوعربی قومیت ګرځول ؤو.

٤- جمعیة رابطة الوطن العربی: دغه ډله په کال ١٩٠٤م کی نجیب عازوری په پاریس کی تأسیس کړه چی د (یقظة العرب) په نوم یی د ملت پالنی له احساساتو نه ډك کتاب د عربي نیشنلیزم د توضیح کولو د پاره خپور کړ.

٥- جمعیة الوطن العربی: دغه ډله یو کال وروسته په ١٩٠٥م کی د خیرالله خیرالله په لاس باندي رامینځ ته شوه چی لومړی کتاب یی د «الحرکة الوطنیة العربیة» تر عنوان لاندي خپور کړ.

٦- جمعیة(العربیة الفتاة): داهم په پاریس کی په کال ١٩١١م کی د عرب محصلینو له خوا رامینځ ته شو چی محمد البعلبکی یی مشر ؤو.

٧- المؤتمرالعربی: داهم د عرب محصلینو له خوا په کال ١٩١٢ م کی د عثمانی خلافت په اړه‌و کی د ننه جوړه شوه.

٩- حزب البعث العربی: دغه ډله میشیل عفلق(عیسایی) او صلاح بیطار(سنی)، وروسته له هغه چی دوی له پاریس څخه د تحصیل د بشپړکولو نه وروسته په کال ١٩٣٢ م کی دمشق ته راستون شول او په مختلفو شکلونو یی د ملت پالنی احساسات په خلکو کی راوپارول، په کال ١٩٤٧م کی یی په ډیر قوت سره رامینځ ته کړه، چی په عربی نړی کی دوی، حکومتونه د تغیر او تبدیل سبب وګرزیدل.

د عربی نړی د ملت پالنی (نیشنلیزم) دغه ډلی او ګوندونه زیاتره د صلیبیانو(عیسایانو) په لارښونه، په فرانسه کی د استعماری کفري ځواکونو په اشاره او حمایه د اسلام او اسلامی نړی په خلاف رامینځ ته شول چی وروسته جمال عبدالناصر په خپل ټول زور او امکاناتو سره دغه فکر او عقیدی ته وده ورکړه، چي نتیجه یی په عربی نړی کی د خلکو یی دینه کول، اسلامی ارزښتونه تباه کول او په ځای یی اروپایی کلتور او ثقافت خپلول وو په خلکو کی عام شو. خو د عربو، عربی وحدت او یو والي، ترقی او پرمختګ اوس هم د سراب په مرحله کی ده چی عمل کول یی له اسلام نه پرته د عربی نشنلیزم په چوکات کی بیخی ناشونی کار دي.

اوس غواړم په ډیر اختصار سره د عربي نشنلیزم هغه د اسلام ضد شعارونه او افکار چی د سرطانی میکروبونو حیثیت لري او د اسلامی عقیدی وژونکی دی، لوستونکو ته وړاندی کړم څو دغه حقیقت په آسانی سره درك کړای شو چی د ملت پالنی د خوځښتونو اساسی هدف او مقصد یواځی د مسلمانانو له زړونو څخه د اسلامی جهاد روحیه لری کول او د اسلامی نړی د پاره د واحد خلافت (اسلامی حکومت) مفکوره له مینځه وړل وؤ. دا ځکه چی د اسلامی دین دغه دوه نظامی او سیاسی هغه اړخونه دي چی د استعمار او د هغه د استعماری ګټو دپاره له ټولو نه لوی او اساس خطر دی. عربي نشنلیزم د عربی نړی په وحدت او یووالی کی تر اوسه پوری هیڅ رول نه دی لوبولی. بلکی عربي نړی یی برعکس په څو دوه درو یی سیکه هیوادونو باندي ویشلی ده چی واکمنان یی د نړی د استعماری کفری ځواکونو په لاس ملعبی دی او د هغی دګټو دپاره کار کوی.

١- محمد المبارك په خپل کتاب«الامة العربیة فی معرکة تحقیق الذات» په ٤٠٧ مخ کی، د عربی ملت پالنی د یوه لارښود عمر الفاخوری وینا اقتباس کوی او لیکی: «عربان ترهغه وخته پوری پرمختګ نشي کولی او بیداریدلی نشي څو عربیت د خپل دین په ډګه ،نه مني. او په دی توګه مسلمانان باید د محمد صلی الله علیه و آله وسلم قرآن له مینځه یوسی، او عیسایان د عیسی علیه السلام په انجیل باندي باید عمل ونکړی».

٢- یوبل عربي ملت پال وایی:«ددې هر عصر دپاره یو مقدس نبوت موجودوی. خو ځموږ دعصر نبوت عربي نشنلیزم دی.»

٣- د عربی ملت پالنی په هکله یوه مشهور شاعر القروی ډیر زیات شعرونه ویلی دی چی عربی ملت پالان یی د شعار په توګه استعمالوی. دلته یی یواځی یو شعر د نمونی په ډول لوستونکو ته وړاندی کیږی.

سلام علی کفر یوحد بیننا
و اهلاً و سهلاً بعده بجهنّم

(هغه کفر ته می سلام دی چی موږ سره یو کړی، وروسته جهنم(دوزخ) ته بیا هرکلی وایم.)

٤- یو بل ملت پال شاعر وایی چی د نشنلیستانو شعار دی:

یا مسلمون و یانصاري دینکم
دین العروبة واحد لاثان

(ای مسلمانانو او ای عیسایانو ستاسي دین، د عربوالی دین یو دي، دوه نه دی.)

٥- په عراق او سوریه دواړو کی:«الحزب البعث العربی» ګوند د قدرت واګی ترلاسه کړی دی او دراډیو او تیلویزن په سطح لاندی شعارونه او نور داسی کفری افکار خپروی.

الف: «البعث دینی ، والعروبة مذهبی.»

(بعث ګوند ځما دین دی او عربوالی ځما مذهب دی.)

ب: آمنت بالبعث رباً لا شریك له و بالعروبة دیناً ماله ثان.

(د بعث په ګوند باندي می ایمان راوړی چی ځما رب دي او شریك نه لری. او عربوالی ځما دین دي چی د هغه دوهم یا ساري نشته دی.) العیاذ بالله

٦-جمال عبدالناصر د ١٩٦٢م کال د «المیثاق الوطنی»(ملي آساسنامه) په دریم باب کی لیکلی دی:«موږ باید د مصر د هلوځلو اساس په فرعونی تاریخ کی ولټوو، چي د مصر او انسانی [illegible]»

په تیرو دوو لسیزو، په افغانستان کی

د هند جنایاتو ته یوه لنډه کتنه

شاه جهان سرداری

(لومړی برخه)

که څه هم د کابل او هند ترمنځ د تیرو دوه لسیزو اړیکی هر چاته ښکاره دي او نه هندوان او نه د هغوی انډیوالان (افغانی کمونیستان) د هغی په موجودیت او شته والي سترګی پټولای شي خو دا چه تذکیر مؤمنانو ته ګټه رسوی په همدي لحاظ موږ غواړو خپلو درنو وطنوالو ته زموږ په هیواد کی د هندوانو لاسوهنی چه په کابل د کمونیستی حکومتونو د مسلط کیدو له اولي ورځی څخه تر ننه پوری یی کړی او کړی یی، هغه برملا کړو.

د هند چارواکو نږدې دوه لسیزی کیږي چه زموږ دولس سره یی دښکاره دښمني اعلان کړی او د تل لپاره یی دا زیار ګاللی چه زموږ د ملت غلیمان په سیاسي او نظامی دواړو ډګرونو کی تقویه کړی، هغوی ته د مرستي لاس وراوږد کړی هغوی ته زموږ د بی ګناه وطنوالو دعامی وژنی جرئت ور زیات کړی.

که پرون د دهلی سرپراهانو زموږ د دین او زمکنی تمامیت خائن کمونیستان تقویه کول او هغوي ته یی هر ډول مرستی برابرولی او هغوی یی د خپل پلارنی وطن ویجاړیدو ته هڅول او د هغوی په لاس یی زموږ د وطن او عزت پلورل تائیدول، خونن ورځ هماغه هندوان دی چه زموږ د دینی ارزښتونو او ملی ښمنیو لوټماران تقویه کوی د هغوی څخه سیاسي او نظامی ملاتړ کوی، هغوی ته ډول ډول وسلې او فني لارښونه برابروی.

زموږ په هیواد کی د هندوانو جنایات یوازی پدی کی نه راټولیږی چه ګنې هغوی زموږ په وطن کی کمونیزم او لوټمار ته د مرستي لاس ورکړی، بلکه همدا هندوان وو چه زموږ په وطن یی دروسانو نظامی یرغل ته قانونی بڼه ورکوله او د هغی د قانونی ګرځولو لپاره یی د نړی د نورو ملکونو د تائید او ملاتړ حاصلولو هڅې هم کولی.

دا خبره چه هندی واکداران ولي زموږ د هیواد والو د وینی تږیدو ته په دومره هڅه کی دی او ولی زموږ د بیوزلی ملت سره دومره دښمنی کوی! دا مسئله ځانګړی اسباب لری او هغه دا دی چه:

١- دا چه زموږ ملت یو مسلمان ملت دی او د هرڅه په پرتله خپلو اسلامی او ایمانی ارزښتونو ته ترجیح ورکوی نو دا حتمی ده که ددی ملت شرعی اراده د خپل حکومت په جوړولو کی پلی شی نو خامخا به هغه حکومت یو اسلامی حکومت وی او د یو اسلامی حکومت پلی کیدل خو که هغه په هر ملك کی وی نه یوازی د هندوانو بلکه د ټول ښکیلا ګګر او نامسلمانه عالم لپاره د اندیښنی وړ دی نو یوازی هند نه بلکه ټول غیر اسلامی ملکونه ټول په دی هڅه کی دی چه زموږ ولس د خپل شرعی سرنوشت د ټاکلو حق ترلاسه نکړی بلکه د تل لپاره د پردیو د لاسپوڅو او ایجنټانو د شکیل او تسلط لاندی وی.

٢- هند او د هغی انډیوالان پدی ښه پوه دي چه زموږ ولس یو غیرتی، مسلمان ولس دی او که چیری دا ولس خپل سیاسي او نظامی واګی پخپل لاس کی ونیسی نو بیا به داحتمی وی چه د ټولی نړی اسلامی پرګنی او مسلمان ملتونه به ددې ولس د هر اړخیزی مرستي څخه برخمن کیږي او د کشمیر مسلمان ولس به هم دی څخه مستثنی نه وی چه پدی سره به د کشمیر آزادی خپل حتمیت خپلوی.

٣- څرنګه چه افغان ولس د اتلولی او سر ښندنی ولك د ویاړ تاریخ لری نو که افغان غیرتی ولس د خپلی خوښي له حکومت څخه برخوردار شي بیا به همدا افغانان وی چه په ډیرو ملکونو او خصوصاً د جنوبی آسیا په سیمو کی به یو وتلی نامتو اسلامی ځواك جوړولوکی مرسته کوی او هند خو پدی هڅه کی دی چه هغه دی ددی منطقی یوازینی لوی ځواك او په یو حساب عام کنترولر وی! نو د یو داسي ویاړمن افغانستان درامنځته کیدو مثل هند ته سخت دی.

٤- څرنګه چه دا دوه لسیزی زموږ په هیواد د روسانو لاسپوڅي مسلط دی نو د هغوی په ملاتړ سره هندوان کولای شي روسانو ته ځان نور هم وررنږدی کړی، د ګاونډی اسلامی پاکستان په ضد تری درنه وسله او هر ډول سیاسي او نظامی(دریم مخ)

دا هم یو حقیقت

حقیـ ستت

طالبان دلوی خدای(ج) د امرونو د نافذولو د پاره راولاړشوی دی. او د دوی سره د افغانستان د مسلمان ملت پوره ملاتړ دی. لکه چه همدا افغان ولس د جهاد په پیلامه کښی د مجاهدینو سره ملګری ؤ او د روسی ظالم او ملحد قوت ته یی ماتی ورکړه. اوس همدا ولس د طالبانو د تحریك پوره ملګرتیا کوی، ځکه چی دوی پوهیږی چه همدا د سولی پرښتی (طالبان) به موږ ته نیکمرغی او سوکالی راوړی او عملاً دا جریان په سترګو باندی وینی. رښتیا رښتیا به وایو حقائق به رابرسیره کوو او په خپلو پخوانیو تیرو تیراو اشتباهاتو به اعتراف کوو.

کله چه په ۱۳۵۹ کال کښی (اتحاد اسلامی برای آزادی افغانستان) جوړ شو او په هغه کښی پنځو تنظیمونو (حرکت انقلاب اسلامی- جبهه، نجات ملی- محاذ ملی اسلامی- حزب اسلامی مولوی خالص - جمعیت اسلامی) ګډون وکړ.

د هغه د ریاست د پاره دووکسانو ځان کاندید کړ چه یو ښاغلی صبغت الله (مجددی) او بل ښاغلی عبدالرسول (سیاف) ؤ. دوی دقیقاً سنجولی وه چه د ښاغلی صبغت الله (مجددی) یوه رأیه زیاتیږی نویی د جمعیت اسلامی د مالی کمیټی څخه لس زره کلداری راوابستی او هلته یی یو چاته ورکړی چه هغه د [illegible] جبهه، نجات ملی مهم غړی ؤ او له پیښور څخه د باندی اوسیده. دا کار همداسی ترسره شو او عبدالرسول (سیاف) رئیس وټاکل شو. هغه وخت دا ویری پیسی وی.

خشت اول گر نهد معمار کج
تاثریا می رود دیوار کج

نو که د ابتدا څخه داسی ګډودی نه وی شوی خدای(ج) به زموږ مل ؤ او دا اوسنی ګډودی به هم نه راتلی. که څه هم هغه سړی چی اوس حقائق درك کړی او د حق پوره پلوی کوی او په خپلو پخوانیو اشتباهاتو له لوی خدایه عفوه غواړی. همدا دلیل و چه څه موده دمخه سید نورالله آغا ورته راغی ورته وی ویل چه: راځه زموږ سره ملګری شه حق ویر ضعیف دی موږ چه کله دحق پلویان وو په هر ځای کښی به ناکام وو روسانو به ښاری راباندی کوله. خو کله چه موږ دپرچمیانوسره ائتلاف وکړ روزی مو پراخه شوه حکومت لاس ته راغی او دا دی هند او روس هم را سره ملګری شول، نوته لیونتوب مه کوه که په حق پسی ګرځی هر جای به دی په حلوا کښی غابښ وتلی وی، خو دغه جناب ځواب ورکړ او ویی ویل چه زه به تر آخری سلګی پوری د حق ملګری وم او د چا په خبرو به نور ونه غولیږم. په اول وخت کښی له مجاهدینو سره د خلکو ویر اخلاص ود غرض لاسونه را اوږده شول د ځینو کسانو له خوا داسی ګډودی او بی نظمی را منځ ته شوی چه حکایت نشی کولی. هغه استاد سیاف چه د اصیل اسلامی حرکت دعوا یی درلوده ده د مکتب پیروانو اوږدی ځنی، شواړپر پیترونه، لوړی خولی، جوړکړی چادرونه لری او پول په چرسوباندی معتاد دی. خلکو ته لاری تیسی اولوتوی یی. نو که موږ په رښتیا هم اسلامی حکومت جوړ کړی وای نن به د تاجکستان او چیچن او نورو تر استعمار لاندی اسلامی هیوادونو دا حالت نه ؤ. روسیی به دا جرأت نشوای کولای چه حمله پری وکړی- هند به په کشمیر ددی ډول ظلمونو ابتکار په لاس کښی نه آخیست موږ ډیر اشتباهات وکړل. موږ ډیری ګډودی را منځ ته کړی اوس چه د طالبانو حرکت را منځ ته شوی دا به څنګه زموږ ایمان اجازه راکړی چه ددوی په خلاف پروپاګنډ وکړو او د دی حرکت مخه ونیسو. ددوی مخالفت به دا معنی ولری چه په لومړی وخت کی خلقیانو پرچمیانو او ضعیف العقیده انسانانو د مجاهدینو مخالفت کاو، نو د روسی په اشاره یی خپله عقیده او وطن د لاسه ورکړل.

نن نو دا پکار نه ده په زړه کښی ښه پوهیږو چه د طالبانو پاڅون حق دی ددوی ملاتړ او ملګری ثواب او اجر لری. نو بیا ولی عملاً ګامونه نه وروسره اخلو. ولی د فجائعو لمن نه ټولوو. ولی په هیواد کښی نیکمرغی او سوکالی نه راولو.

راځی چی ټول یولاس شو. پردی استعمار ته غابښ ماتوونکی ځواب ورکړو. او د حق د چیغی ملتیا وکړو. هغه چیغه چه نن ورځ یی دنړی ټوله فضا نیولی او په رښتیا سره دیوه رښتینی بدلون زیری له ځان سره لری.

بمناسبت سالګرد وفات جناب خلیفه صاحب ارغندی (ره)

مولوی غلام نبی «زرمتی»

ناله و فریاد با الم و غم و اندوه قرین
حسرت و افسوس برما بی نصیبان حزین
وای زین دارفنای بی بقا و بی ثبات
صد بلا و صد فنا و مرګش اندرهر کمین
زانکه رفت از این جهان فانی و ناپایدار
آن چراغ معرفت و آن مجمع الانوار دین
عالم عامل وهم شیخ طریقت انکه بود
رهبر بینا و دانا رهنمای سالکین
در لطائف کامل و ګشت از فنا پس در بقا
زندګانی صرف کرد در ذکر رب العالمین
یافت از وی بهره های معرفت خلق کثیر
بود بحر فیض و رحمت ګنج دلها را امین
نونهال حضرت نورالمشائخ(رح) آنکه یافت
پرورش از باغبان نقشبندان متین
باغبان چون آفتاب کزوی بتافت
پرتو نوروضیایش برفراز عالمین
قطب ارشاد و امام وقت و هم دانای راز
حضرت ضوء المشائخ صاحب عین الیقین
جلوه ګر نورش به بس دلها که شد کامل ولی
پیرو شرع مقدس با کمال مسند نشین
صاحبان علم و امرونهی حق را داعیان
بود ازاین جمله مولانای مرحوم فضل الدّین(رح)
شاد باد ارواح شان با نعمت رضوان هم
همچنین دیدار ربّ(ج) درباغ فردوس برین
جستم از تاریخ سال رحلتش زد بانګ و ګفت
«غیر ربّ» از یاد داد رخ کردبا نعم المعین
هوش کن مسترحما! میدان غنیمت نقد وقت
منتظر تیر اجل هم مرګشت اندر کمین
دائماً باقیست ذات پاك حیّ لایموت (ج)
ماسوی فانی بود حتی که ختم المرسلین

پشاور کمپ استقبال

د ادب ملغلری

هندی استعمار ته

(اله طلوع افغان نه د حنیفی خوښه)

ملادرمحمد ګوهری

زما دقام بچی دی اوس هم پیژندلی نه دی
زما د اولس مسلمانان دی لالیدلی نه دی
په کچه کاڼی یی تلی تاسم تللی نه دی
اوس دی لاهم په پاخه کاڼی ازمویلی نه دی
تایی تلخی د شرینی په ځای څکلی نه دی
تاته یی توری لاله تیګو را ایستلی نه دی
لایی غاښونه د غضب درته چیچلی نه دی
لایی غصی د تا په برخه پاریدلی نه دی

که امان غواړی د افغان بچونی مه ویښوه
دا درته ښه ده ددی ونو ځانګی مه خوځوه

ددی اولس د زور پرسان له انګریزانو وکړه
پوښتنه خاص د مکتاڼن له جنرالانو وکړه
بایی پوښتنه د قوت له چنګیزانو وکړه
یا ته پوښتنه له مغلو تاتاریانو وکړه
د استفهام لپاره سوال ته له روسانو وکړه
زموږ د تکبیر دزور تپوس یی له پوځیانو وکړه
دغزنوی د زور پرسان دی له بتانو وکړه
لر څه تپوس دی د مندرله مندتانو وکړه

له هغه وروسته بیا میدان د سرجنګی ته راځه
د جنګ لپاره بیا ډګر د سربازی ته راځه

ته لا بی هوشه یی په هوش باندی راغلی نه یی
ته لا ویده یی چاله خوبه پاڅولی نه یی
لکه چی جنګ نه د میوند چا خبر کړی نه یی
لا د افغان د جنګ په اور کښی سوزیدلی نه یی
ته لاتراوسه د زمرو چنګ ته راغلی نه یی
چالاتراوسه ککری باندی وهلی نه یی
ته زلزلو د هندوکش لا ښوروولی نه یی
واورینو څوکو د سپین غر لارغړولی نه یی

چی دزمرو کورته راځی هغه څوك سرنه لری
چی د باز ځالی لټوی پوی شه بصر نه لری

دروسی استعمار پاته شوئوته

ملا اسد الله حنیفی

چی په موږه بلوسیدی انجام دی څه شو؟
چی په کورمو راختی انجام دی څه شو؟
چی دی تل برغل برید ونه کړل په نورو
چی په زور دی نازیدی انجام دی څه شو؟
چی په جبردی نیول پردی ملکونه
په بی وزلو به لریدی انجام دی څه شو؟
د اسلام په ضد دی ښکلی چی لښکری
چی کولی دی جګړی انجام دی څه شو؟
چی تاراك به دی کاوه مسلمانو
چی په کبر به ورتلی انجام دی څه شو؟
چی له خدای سره دی جنګ ؤ اعلان کړی
چی په هیڅ نه مریدی انجام دی څه شو؟
چی زمری دی ویښول د ځان په وړاندی
چی په کور بی ورلویدی انجام دی څه شو؟
حنیفی د شعر په ژبه درته وایی
چی زموږ کره راتلی انجام دی څه شو؟

ای یاران!!!

عزیزالله صدیق وردګ

بیا یاران پشت عقبی بګردیم
امروزرا ترك پشت فردا بګردیم
خوشا .آنان که بدنیا وداع ګفت
این وآن ترك پشت آنها بګردیم
چون زنده ګی ما ابد در آن است
بګذار همه پشت بتا بګردیم
مکتب عشق که زمجنون آموختیم
اندرین ره پشت لیلی بګردیم
چون ګه جمعیت ما صفا بر آید
عاصي منفوریشت پارسا بګردیم
«صدیق وردك» اندرغزل سروروم
سرور راترك پشت غمها بګردیم

روسانو چی د ربانی د اداری حمایت اعلان کړ، دغه د دغی اداری د زوال زیری دی

الحاج مولوی احمد جان

د افغانستان نژدی څو کلن تاریخ ته چی وکتل شي داسي څرګندیږی چی د افغانستان هریوه حکومت چی په روسانو تکیه کړی ده او د مرستي لاس یی ورغزولی دی الله تعالی هغه راپرزولي دي، نو ځکه اوس بیا موږ په دی باور لرو چی انشاء الله تعالی د ربانی شړیدلی اداره به ویره ژر له منځه ځی او په ځای یی سوچه اسلامی حکومت او نظام رامنځ ته کیږی.

په تیره اونی کی چی د روس مشر خپلوخلکو ته په تقریر کی براﻻ اعلان وکړ چی موږ به د کابل د اداری هر راز مرسته ملګرتیا کوو، د افغانستان ملت او د نړی خلکو ته یی ثابته کړه چی د کابل اوسنی اداره هم د پخوانی کمونیستی اداری په څیر او له هغو نه لا مخکی د هغو د پخوانیو انتیوالانو په څیر د روس یوه مزدوره اداره ده، روس غواړي چی دغه مزدوره اداره ټینګه وساتی ترڅو دلته یو مستحکم اسلامی حکومت جوړ نه شي چی بیا به دهغه په واسطه د منځنی آسیا مسلمانان شیرازه شی، ښی اړیکی به ورسره پیدا کړی او په دغه ترتیب سره به د روس له ولکی نه یو مخیزه آزاد شي نوځکه به د کابل اداره تر وسه وسه پوری په دغه مړ ژواندی حالت کی ساتی که هر څومره روس ته ګرانه هم تمامه شی.

که څوك ووایي چی ربانی خو پنځلس کاله جهاد کړی دی نو څنګه به د روس د غلامی جغ پخپله غاړه کیږدي او چوپړ به ورته وهی؟ موږ وایو دا د تعجب وړ خبره نه ده ځکه: ربانی په تیرو دریو څلورو کلونو کی د خپل یی سیکه واك ساتلو لپاره هر څه وکړل ان تردي چی په سلګونو علمای کرام، په سلګونو د قرآن مجید حافظان، په زرګونو طالبان او نور مسلمانان یی په شهادت ورسول.وانا لله... په دی سره یی د الله تعالی ، د قرآن مجید او د رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم دښمنی وکړه؛ له دي سره سره چی دی پوهیده چی په دغه بد عمل سره به د دوزخ یوه سکروټه کیږم، ځان یی د دوزخ یوه مړی کړ، له مجاهد او مسلمان ملت نه، له اسلامی امت نه او له انسانیت نه یی هیڅ شرم و نه کړ؛ نو یو څوك چی د څو ورځنی جاه او جلال لپاره خپل عزت او کرامت، خپل آخرت او خپله حیا له لاسه ورکوی، دا خو بیا بیخی ورته آسانه ده چی که روسان یی وساتلای شي، که هندوان یی وساتلای شی او که بل هر بی دینه یی وساتلی شي دی به د هغه چا غلامی د سر په سترګو ومنی.

. په یو روایت کی راغلی دی چی د پخوانیو پیغامبرانو(علیهم الصلوة والسلام) له مقدسو خبرو څخه یوه دا ده: «چی نه شرمیږی ! نو څه چی غواړی هغه وکړه!» د ربانی په څیر خلکو حیا او شرم ختم شکاریږی نو ځکه هرڅه ورته آسانه دی، کله یو سړي د ځان زوي اووررور او کله یی د ځان قایم مقام ګرزوی، خو بله ورځ یی په ضد جهاد اعلانوی، بله ورځ بیا زاری وریته کوی چی: «ملګرتیا می وکړه! هرڅه چی غواړی زه ورته حاضر یم خو چی چوکی می راته وساتی...»؛

څنګه چی د ربانی اداری په ویره بی شرمی سره د روسانو په غاړه کی ځان وروآچاوه او له هغه خدایه جل جلاله نه یی خپله بروسه او تکیه ختمه کړه چی پرون یی په روسانو باندی کامیاب کړی ؤ او د هغه په ځای یی په هغه روس پوري ځان وټومبه چی پرون یی د افغانستان د مجاهد او مسلمان ملت له لاسه شکست او ماتی خوړلی وه دا ملت ته د ربانی د ماتی زیری دی دا ځکه چی هرچا چی په روسانو تکیه کړی ده، له خپله خدایه جل جلاله او خپل ملت نه یی مخ اړولی دی الله تعالی را نسکورکړی دی؛ د افغانستان مسلمان ملت ته دا زیری وروکوو چی د شهیدانو کرامو(رح) وینی به رنګ راوړی او ژر به د الله تعالی په فضل او کومك سره په افغانستان کی یو ثابت اسلامی نظام او حکومت راشي چی هغه به د سولی او نیکمرغی ضامن وی.

و من الله التوفیق.

د هند جنایاتو ته.

ملاتړ تر لاسه کړی.

٥- څرنګه چه دهلی پاکستان خپل لوی دښمن ګڼی او ددی دوه ګاونډیو ملکونو اړیکی د ابتداء څخه تر ننه پوری کړکیچن او د ستونزو نه ډکی دی، نو هندوان هرګز دا نشی زغملی چه پاك، افغان مسلمانان او ورونه ولسونه دی د اسلامی اخوت په فضا کی ژوند وکړی او یو د بل سره دي نیکی اړیکی ولری. نو څرنګه چه زموږ د جهاد د پیلیږی څخه تر اوسه پوری د پاکستان مسلمان ولس زموږ د ملت ملاتړ او د هغی د حقه حقوقو تر لاسه کولو کی یی د ستاینی وړ بیدریغه قربانی ورکړی نو که هر کله افغان غیرتی ولس د خپلی اسلامی ارادی څښتن شي بیا به ددی دوو ملتونو ترمنځ اسلامی وروروګلوی نوره هم مضبوطه شی او دا کار خو هرګز هم هند ته د منلو وړ ندی.

پورتنی او دهغی تر څنګ نور ډیر لاملونه شته چه هند دیته هڅوی چه زموږ د ملت په مقابل کی دښمنانه دریځ خپل کړی او موږ به پخپل وار سره دخپل هیواد دستونزو په تودولو او زیاتولو کی د هند سیاسي او نظامی مداخلی په لنډه او مختصره توګه بیانی کړو. ترڅو زموږ وطنوال ددغه مکار دښمن خطرناکو لوبو ته خبر شی، او زیار به وباسو چه په مستندو دلایلو دا خبره ثابته کړو چه دهلی د تل لپاره زموږ د ولس د ارادی دښمن او زموږ د دښمنانو او ملي جفا کارانو دوست او مرستندوی پاتی شویدی، او ترننه پوری په خپل دښمنانه دریځ ټینګ ولاړ دی.

د طالبانو د اسلامی پاڅون ضرورت او مشروعیت

نعمانی

آخری برخه

کله چی طالبان د کابل دروازو ته ورسیدل د کشمند د ملیشی سنګرونه یی مات کړل، مزاری او څو تنه ملګری یی په یوه هوایی حادثه کښی له منځه ولاړل، نو بیا هلته ربانی او مسعود او ددوی نوکرانو، طالبان امریکایان، انګریزان او پنجابیان، د غرب مزدوران، کمونیست وله ملیشه او داسي نورو... نومونو یاد کړل او ددوی مقابلی او مقاتلی ته په ټولو وسائلو او امکاناتو ودریدل، حال دا چی طالبانو غوښتل چی د افغانستان څخه د کفر او الحاد، کمونیزم او سیکولرستي نظامونو تغر ټول کړی، منکرات ختم کړی، قطاع الطریق، غله او زناکاران د اسلامی شریعت سره سم په سزا ورسوی تر څو په ملك کښی امن او استقرار راشی، د شهیدانو ارمان ترسره شی او مکمل اسلامی نظام عملی شی، دا و د طالبانو د اسلامی پاڅون ضرورت او مشروعیت

شرعی دلائل یی په لاندی ډول دی؛

د اسلامی شریعت د حکم سره سم کله چی یو شمیر خلك د مسلمانانو په نوم په زور او قوت راپورته شی او د اسلحی په زور دلارو په شوکولو پیل وکړی، چور او چپاول، مسلمان وژنی او د زمکی په مخ په فساد کولو بوخت شي، نو د دغو خلکو وژل په دار کول یا ددوی ښی لاس، کیڼه پښه او یا کیڼ لاس ښی پښه پریکول او یا په زندان کښی د بند په سزا محکومول الهی فرمان او قرآنی حکم دی متعال خدای(ج) د المائدی په سورة :۳۳ آیت کښي فرمایی:«د بی شکه هم دا خبره ده چی جزا دهغو کسانو چی جنګ کوی دوی له (دوستانو د) الله او د رسول دده سره او سعی کوی(منډی وهی) دوی په زمکه (په ملك) کښی لپاره د فساد (او بد امنی غورځولو) چی دوی ووژلی شی یا دی په دار کړای شی یا دی پری کړای شي لاسونه ددوی او پښی ددوی، سره مخالفی(یعنی ښی لاس او کیڼه پښه یا ددی عکس) یا دی وشړلی شی له زمکی(په حبس سره یا له هغه ځایه بل لری ځای ته) دا(مذکوره جزا) دغو(غلو) ته رسوایی ده په دنیاکښی او شته دغو(غلو) ته په آخرت کښی عذاب ډیر لوی».

«که چیرته په کوم هیواد کښی اسلامی او شرعی حکومت نه وی نو د هغه هیواد پر ټولو مسلمانانو ددغی فساد مخه نیول او د مفسدینو، جنایتکارانو وژل، خلع سلاح کول واجب دی»

پدی هکله د اسلام د فقهاؤنظر پدی ډول دی؛

شیخ ابوبکرن الجصاص الحنفی«رح» المتوفی سنة ۳۷۰هـ په خپل مشهور تفسیر احکام القرآن کښي فرمایی؛ د منکر په تغییرکښی د ژبی انکار په هغه ځای کښي چی د برچی په زور تغییر راتلای شی بالکل جواز نه لری او په کوم ځای کښی چی د خولی زجر او توبیخ او د خداوند متعال په وعید یادونی نصیحت ممکن وی او د منکر تغییر پری راتلای شی هلته په قلبی انکار د منکر تغیر جواز نه لری ددی عباراتو څخه وروسته د همدی مطلب د تائید لپاره زیات احادیث او اثار نقل کړیدی او بیایی ویلی دی چی دغه احادیث او اثار پدی دلالت کوی چی د امر بالمعروف و نهی عن المنکر لپاره دوه حاله دی یو دا چی د منکر تغییر په لاس ممکن وی نو سمی لاری بلونکو ته پکار دی چی پر لاس باندی د منکر تغییر وکړی او پر لاس د منکر تغییر په څو ډولونو باندی ویشل شوی دی، یو ډول دا دی چی سړی د منکر تغییر په توره وکړی او د منکر خاوند قتل کړی او ددی نه پرته یی چاره نه وی نو که دا ډول حالت وو نو د منکر خاوند وژل ورته جواز لری لکه چی یو سړي وګوری چی دا بل سړی وژنی یا پخپله د منکر په تغییر کوونکی باندي د وژلو حمله وکړی او یا د چا مال لوټ کړی او د کومی نامحرمی ښځی عزت ته په بد نظر ګوری او دا بدکار سړي د خولی په ویلو نه منع کړی نو پکار دی چی هغه ووژل شي.

بیا امام ابوبکرن الجصاص فرمایی چی امام ابن رستم له امام محمد بن الحسن الشیبانی «رح» څخه د هغه سړی په هکله پوښتنه وکړه چی له بل څخه مال غصب کړی دغه شخص ته د هغه بل سړي د مال خلاصون لپاره د غاصب قتل جائز دی؟

هغه ورته وفرمایل: هوا ترڅو د هغه مال او متاع بیرته واخلی او خپل اصلی مالك ته وسپاری همدا راز حضرت سیدنا امام اعظم ابوحنیفه«رح» فرمایی چی: غل څه وخت چی دچا څخه مال واخلی بل مسلمان ته د هغه مرګ مباح دی ترڅو چی هغه مال ترینه بیرته واخلی او خپل اصلی مالك ته وسپاری.

د پورتنیو دلائلو څخه همدا یو مطلب په ډاګه کیږی چی په کوم وخت کښی مسلط شرعی حکومت نه وی د جاسوسانو او د خدای(ج) په زمکه فساد خورونکو اوباټك والا ظالمانو د قتل په مباح والی باندی زیاتو احنافو علماؤ فتوی ورکړیدی امام ابوالشجاع السمرقندی او علامة قاضی عماد الدین د احنافو څخه د داسی خلکو په کفر باندی هم فتوی ورکړیدی ولی موږ د کفر فتوی نه ورکوو خو د قطاع الطریق او ظالمانو او ساعی بالفسا، قطاع الطریقو د معاونینو او د هغو د جاسوسانو وژل د عامو خلکو د امن لپاره جائز ګڼو د پوره تفصیل لپاره پورتنی کتابونه وګوری ځینی خلك وایی چی د طالبانو په مقابل کښی موږ حق بجانب یو دا ځکه چی دوی له موږ څخه اسلحی اخلی او دا وسلی زموږ شخصی مال دی او دا ځکه چی پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایی؛ څوك چی د خپل مال په وراندی (د مال ساتنی لپاره) ووژل شی نو هغه شهید دی.

موږ ورته وایو چی: د پاك شریعت له نظره دغه اسلحه په دوه ډوله ده یو هغه ډول ده چی د جهاد په نامه له دارالحرب څخه راغلی ده او یامسلمانانو ته د جهاد فی سبیل الله په خاطر له مسلمانو دولتونو په اعانه اخستل شویدی دا دواړه ډوله د فئ له اقسامو څخه شمیرل کیږی او د ټولو مسلمانانو حقوق وریوری تړل شویدی دا به د مسلمانانو بیت المال ته سپارله کیږی.

پدی هکله احناف فقهاء فرمایی؛ دا ډول مالونه د حق مشاع له امله اسلامی بیت المال ته سپارلی شی ترڅو بیا یو منظم اسلامی اردو پری مسلح کړی شی او هغه ډول اسلحه چی له کفارو څخه په جنګ اخستل شوی وی هغه غنیمت دی او په ارتباط اخستل شوی مال او وسله فئ بلل کیږی او هغه اسلحی او ملي شتمنی چی دنجیب د رژیم له سقوط سره سم مسلمانانو ته په لاس ورغلی دی هغه ټول اموال د فئ دی او د مسلمانانو بیت المال ته به سپارله کیږی دا د هیچا شخصی ملکیت نه دی.

پدی هکله د فقهاء کرامو نظر دا دی؛

والفئ: ماتیل منهم من غیر قتال بعد ما تضع الحرب او زار ها و تعبیر الدار دارالاسلام و حکمه ان یکون لکافة المسلمین ولا یخمس الخ الکفایة صـ ۲۱۵ جـ ۱ او د مرتد حکومت مال لدی امله چی غاصب دی د مسلمانانو د غلبی په وخت کښی فئ دی او د بیت المال حق ګڼل کیږی حتی د مرتد شخصی مال د احنافو فقهاؤ نظر دا دی؛ ولو اخذ مال المرتد لم یرده لأنه مال غیرمعصوم لأن مال امرتدین فئ للمسلمین اذا ظهر وعلیهم الخ ردالمحتار صـ ۲۵۸ جـ ۱

د فئ په اقسامو کښی زیات قسمونه راځی چی ناپوهان پری د شخصی ملکیت دعوه کوی د پره تفصیل لپاره وګوری کتاب الاموال د حافظ ابی عبید بن سلام البغدادی المتوفی سنة ۲۲٤ هـ صـ ۱٦ جـ ۱ د فئ مالونه د بیت المال عوائد دی او مصارف یی فقهاء کرام داسی تشریح کوی؛

و ما جباه الامام من الخراجة و من اموال بنی تغلب و ما اهداه الحرب إلی الامام و الجزیة یصرف فی مصالح المسلمین کسدالثغور و بناء القناطیر و الجسور و یعطی قضاة المسلمین و عمالهم وعلمائهم منه ما یکفیهم و یدفع منه ارزاق المقاتله و ذراریهم لانه مال بیت المال فانه وصل إلی المسلمین من غیر قتال و هو معد لمصالح المسلمین و هولاء عملتهم و نفقة الدراری علی الاباء فلولم یعط کفایتهم لاحتاجوا إلی الاکتساب ولا یفرغون إلی الجهاد الخ هدایة صـ ۵۹۹ جـ ۲

د پورتنیو دلائلو څخه په ډاګه شوه چی دغه اسلحی او دغه مالونه د چا شخصی حق ندی بلکی دا د مسلمانانو د بیت المال حق دی او دغو ظالمانو د مسلمانانو په بیت المال کښي خر لا څه کوی د یتیمانو او کونډو له بوډیجی څخه په ملیاردو پیسی په ناروا جنګ کښی لګولی دی د قرآن کریم حافظان او دینی عالمان او ددین طالبان یی وژلی دی او د بیت المال په پیسو یی مسلمانان د اعیان او علماء ترور کړی او د کمونیستی دورو د وحشت قهرمانانو ته په کیلوګانو او په بوجیو پیسی پدی خاطر ورکوی چی دامر بالمعروف او نهی عن المنکر صفوف وځپی ترڅو مخلوطه شیطانی اداره پر خپل حال پته شي او دلینن ، کارل مارکس بیجان له اقتدار څخه ګڼه نه شی او په ملت دغه الهی عذاب په دائمی توګه مسلط وی څوك به حقه خبره نه شی کړلی د مسلمانانو په سترګی او نوکان ویستل کیږی د خاد او د تعقیب جنایتکاری اداری په ځپل حال وی د کمونیست رژیم د دفاع د وزارت ټول نظامی پرسونل به په یو بل نوم د یو بل تنظیم په خوا کښي ولاړوی او د شهیدانو او د سنګرونومجاهدینو او د بی وزلو مهاجرینو په نوم ټول شوي بیت المال څخه به دومره امتیازات ورکولی شی چی تخمین یی مسلمانانو ته یو ګران کار ښکاری ولی موږ ته د قرآن کریم دا فرمان پوره تسلی راکوی چی فرمایی: و کفی بالله حسیباً که دوی سره د ملت اصلی خواخوږی بیجان په دنیا کښی حساب ونکړی ولی د متعال خدای(ج) له نیولو نه هیڅری خلاصون نه لری متعال خدای دوی سره په دنیا، برزخ او اخرت کښی حساب وکړی ترڅو د دردیدلی مسلمان ملت دردمند زړونه په قرار شی. والله یقول الحق و هو یهدی السبیل. والسلام علیکم و رحمة الله و برکاته. *

په اسلامي نړۍ کې..

تهذیب له پلوه ته لومړی مؤسس دی.» یو بل ځای په اووم باب کی یی لیکلی دی:

«د ټول آسمانی دینونه او ملحبونه په حقیقت کی انسانی انقلابونه دی، چی د هغه اساسی هدف د انسان عزت ، لوړوالی او خوشحالی ده. د دینی مفکرینو له پلوه ته لوی مسؤلیت او دنده دا دی چی دی ددغه حقیقت ساتنه وکړی.»

د جمال عبدالناصر، سادات او نورو ملت پالانو له شعارونو څخه یو دا هم دی چی دخپلو بیانیو پای په دغه جمله باندی کوی:«العزت لله و العرب» چی عرب له الله سره شریك ګڼی او یا هیڅ په خدای باور نه لري، یادونه یی یواځی د رسم او رواج په خاطر باندي کوی.

د مصري ملت پالانو ستر افتخار او شعار ځانونه فرعون ته منسوبول دی چی وایی:«ونحن عربٌ وابنا، الفراعنه»(مونږ عرب یو او د فرعونیانو زامن یو.)

اوس راځی چی وګورو د عربی ملت پالانو دغه شعارونه او مبارزی تبلیغات او پروپاګندی د عمل په میدان کی څومره د عربی نړی د دردونو دوا شوي دی؟ او عرب یی څومره متحد کړی دی؟ هغه شعار چی ویل به یی«وحدة العرب من الخلیج الی المحیط» د عمل په میدان کی ترڅومره اندازی پیاده شوی دی؟ او عربي نشنلیزم عربانو ته کوم عزت او افتخارات وربښلی دی؟ که د نرلسی او شلمی پیړی د عربانو هغه حالت وګورو چی ددغو ملی غورځنګونو په نتیجه کی د عربی نړی په برخه شوی دی، نو ځواب به یی سل په سلو کی منفي او صفر راووزی.

د عربی نشنلیزم له پلوه نه کلك او غښتلی ملت پال ګوند«حزب البعث العربی» دی چی نژدی په ټولو عربي هیوادونو کی پیروان لري، خود بریالیتوب نه وروسته یی ګوډ چی پیراتو یی په بیلو بیلو هیوادونو کی حکومترنه جوړ کړی دی او یو بل سره سخت دښمنان هم دي، په عراق کی د بعث ګوند حاکم دي، او په سوریه کی هم بعث ګوند حاکم دي، او یو له بل سره په سخت نفرت او دښمنی کی دی. د ایران او عراق د جګړی په وخت کی سوریی د عراق په خلاف له ایران سره مرسته کړله. داسرائیلو په خلاف یی حال دا دی چی سوریی د ګولان لوړی یی له جګړی اسرائیلو ته پریښودلی او ماتي یی وخوړه. او عراق کویت په امریکایانو باندی وسپارل، فلسطین او جنوبي لبنان اوس هم اسرائیلو تر سیټی لاندی کړی دی.

په کال ۱۹٦۷ کی کله چی اسرائیلو په مصر کی د فرعون په زامنو باندی یرغل پیل کړ، د څو ساعته وروسته د مصر ټول هوایی ځواك ځای په ځای بیخی له مینځه ولاړ، په غلورو ورځو کی یی غزه، شرم الشیخ، د سینا ټوټوروژمه او د سویز ټوله ترانګه تر خپلی ولکی لاندی راوستله، او مصر د اسرائیلو ټاپونو تر خولو لاندی شو، او بیا بیت المقدس د مسلمانانو له لاسه څخه ووت. دغه ذلت او له دغو ټولو تعخونو سره سره کله چی دوی رسوایی هغه وخت د عربانو په برخه شوه کله اسلام پریښودل او خپل عزت یی په عربی نشنلیزم کی ولټول الله دوی د سپکو خوارو ځای، د وطن پرستی او ملت پالنی په فاسدو شعارونو او احساساتو باندي تکیه وکړه. دوه نیم سره میلیونه عرب د دوه نیم میلیونه اسرائیلو په وړاندی د تل دپاره له ماتی سره مخامخ او د محکوم او ذلیل قوم په توګه د ذلت شپی او ورځی سبا کوی. په بی شمیره ورو ورو یی سپکه هیوادونو باندي ویشل شوی دی، هر هیواد کوښښ کوی چی اسرائیلو ته چی لوی خدای جل جلاله د دوی په هکله د ذلت او خواری فیصله کړی ده او فرمایی:«په دوی (اسرائیلو) باندی ذلت مقرر شوی ده، په هر ځای کی چی وموندل شی دوی په(هیڅکله په عزت کی نه شی) مګر دا چی د الله په رسی باندی منګولی ولګوی او یا د خلکو په رسی (د نورو انسانانو تر وزرونو لاندی پناه واخلی.(آل عمران: ۱۱۲)

دا هغه عرب دی چی د اسلام د مقدس او انقلابی دین د پیروی له کبله یو وخت په خپلومنځونو کی د اسلامی دین د متلو په اساس سره مسلمانان ووتو ؤو او د نړی ستر مادی ځواکونه روم او ایران، قیصر او کسری یی راپه ګونډو کړل او د ټولي نړی سیاسی، اقتصادی، فرهنګی ساینسی او نظامی قیادت یی تر لاسه کړ. د ژوندانه په ټولو ساحو کی د نړی استاذان وګرزیدل. نه یواځی عرب بلکی د اسلامی نړی نني دوه پنځوس هیوادونه یواځی یو هیواد ؤو ، له یوه مرکز څخه اداره کیدل، په ټوله اسلامی نړی کی فیصلی په قرآن او په سنت باندي کیدلی شریعت او قانون د الله ؤو، هیڅ کوم بل فرانسوی، انګریزی، ایټالوي اوجرمني قوانینو وجود نه درلود، بلکی د جاهلیت په ترژمیږکی ورکی اروپا تمدن اوتهذیب، قانون او حکمت له مسلمانانو څخه زده کړ. او مسلمانان د اسلام په برکت په عزت کی وؤ.

د اسلام دوهم خلیفه حضرت عمر رضی الله تعالی عنه یو ځلی د عراق او شام د فتح کیدلو نه وروسته د دغو سیمو فاتح قومانداتان راټول کړل او دپند او نصیحت یوه بیانیه یی ورکړه چی یو برخه یی ولته اقتباس کوو:«... انا اعزکم اللّهُ بالاسلام، فمهما ابتغیتم العزة فی غیره اذلکم اللّه...»(... بی شکه تاسي ته الله عزت او غلبه د اسلام په خاطر در کړی ده(چی عمل مو وریاندی کړی دی) نوکله که مو له اسلام څخه پرته په بل څه کی ځانته عزت او غلبه وغوښتله، الله به مو خوار او ذلیل کړي...»

رښتیا هم کله چی عربو او مسلمانانو خپل عزت او کامیابی په ملت پالنه، قوم پرستی او داروپایی کلتور اومفکورو په خپلولو کی وغوښتل، الله دوی ذلیل کړل، سپك یی کړل، نن ګورو چی عرب د نفوسو په لحاظ یو په سلو له اسرائیلو څخه زیات دی. د اقتصاد په لحاظ لوړه طلا (پطرول) د عربو په څنګه کی دی، فوځی ستراتیژیك کانالونه، خلیجونه، سندونه او غرونه د عربو په لاس کی دی، په نړی کی د مرکزیت سه موقعیت د عربو په برخه دی، خو ذلت شپی او ورځی سبا کوی، ترڅه پوری څو چی اسلام ته راګرځیدلی نه وی. *

د خوست په ولایت...

پوښتنه: محترم قاری صاحب! هیله ده چی ستاسي د ولایت دسوونی او روزنی د کار چلند په هکله زمونږ لوستونکو ته یو څه توضیحات ورکړی.

ځواب: د خوست د تعلیم او تربیی پروګرامونه ډیر ښه روان او د پرمختګ په حال کی دي، په دغو وختونو کی نژدی(۱۵) زره زده کوونکی د خوست په ښوونځیو او مدرسو کی په زده کړه بوخت دی. د طالبانو د اسلامی تحریك له راتك نه مخکی څینو ښوونځیو بیل، بیل تعلیمی نصابونه لرل.(الحمدلله) د طالبانو د اسلامی تحریك له راتګ سره سم د ټولو ښوونځیو تعلیمی نصاب یو شانته غوره کړای شو، څینی غیر رسمی ښوونځی مو هم رسمی کړل.

پوښتنه: په خوست کی څو لیسی په ښوونه او روزنه لګیا دی؟

ځواب: ټولی (۱۳) لیسی لګیا دی، دوه د خوست په بازار کی او یو یوه په ولسوالیو کی په کار بوختی دی، دغه ټولی لیسی د کمونیستی د رژیم په دوره کی بی کاره پرتی وی او مونږ اوس فعالی کړی یوه مو نوی هم جوړه کړه.

پوښتنه: آیا د دغو لیسو ودانی جوړی دی؟

ځواب: هوا دغه تعمیرونه مو له سره د(داګار) او (سوبهن) د مؤسسو په مرسته ودان کړی دی، برازی د(الفتح) لیسه ودانی نه لري، او د (حربن) لیسی ودانی ترمیم غواړي.

پوښتنه: څومره لومړنی او څومره منځنی ښونځی فعالیت کوی؟

ځواب: لومړنی ښوونځی نژدی(۲۰۰) او منځنی(۵۰) دي.

پوښتنه: څومره دینی مدرسی فعالیت کوی؟

ځواب: د دینی مدرسو شمیر تر (٦۰) پوری رسیږی، په دغو کی(منبع الجهاد) نامتو مدرسه ده چی د خوست په مرکز کی ده او نژدی(٦۰۰) طالبانو ته د اوسیدلو لپاره تیاری لری.

پوښتنه: تاسو د ښوونی اوروزنی په چارو کی د طالبانو د اسلامی تحریك له مرکز سره تر کومه حده پوری سلا مشوره کوی؟

ځواب: مونږ په ټولو کارونو کی د تحریك له مرکز سره په رابطه کی یو، او هدایت ورته اخلو. او معلومه شوی ده چي دراتلونکی(۱۳۷۵) لمریز کال په سر کی به په کندهار کی د ټولو ولایاتو د ښوونی او روزنی رئیسان سره غونډیږی او د ښوونی او روزنی د کارونو د لا ښه ګرندیتوب لپاره به ډیری سلامشوری کوی او ګڼور تصمیمونه به نیسی، داستاذانو او ملازمینو د تنخوا تصمیم به هم نیول کیږی. او دغونډی صدارت به د ښوونی او روزني عمومی رئیس مولوی صاحب عبدالشکور کوی.

د رباني د اداري ...

خبریال زیاتوی د ربانی داجرتی قاتلانو هره پوسته د زنا، لواطت، قمار او... نورو جرمونو اډه ګرځیدلی. خبریال لیکی پدی وروستیو ورځو کی د کابل د اداری د اجرتی قاتلانو یو قوماندان حاجی سرور د پنجشیر اوسیدونکی خپل پیجارو موټر په قمار کی وبایللو، همدا را ز یو بل قوماندان حاجی نسیم چی هغه هم پنجشیری دی دری زره لکه افغانی په قمار وهلو کی تاوان کړی . خبریال وایی کله چه دغه قمار وهونکی دخپلو خسارو د جبرانولو لپاره د قره بیګ په لاس د قیادت مرکز ته یوړل شول نو له خپلو نوموتو څخه یی د (حاجی) لقبونه لیری کړل، او ځانونه یی یوازی سرور او نسیم معرفی کړل.

خبریال زیاتوی، په کابل مسلط واکمنان او د هغوی مشران د خپلو بی حده مصارفو د پوره کولو لپاره یوازی د فردی او دولتی شتمنیو په لوټولو اکتفا نه کوی بلکه د هغی ترڅنګ د ډول ډول اخلاقی فسادونو مرتکب هم ګرځی چه حتی څینی لوړ رتبه دولتی مامورین د فحاشی د مراکزو په لرلو هم تورن دی او مونږ به په مناسب وخت کی ددی موضوع پوره تفصیلات خپاره کړو.

خبر آماده گی...

ارتباط جلسه و فیصله ئی داشته است بلکه این خبر دروغ محض بوده.، و فرصت طلبان شکست خورده و نهفته در کمین میخواهند با ایجاد و پخش همچون اکاذیب تشویشی برای مردم مسلمان ولایات مشرقی کشور ایجاد نمایند، در حالیکه همه، مردم مشرقی و قوماندانان آن سمت با تحریك (طالبان) علاقمند و وابسته میباشند.

اداره، کابل و فرصت طلبان بی ماهیت و فرومایه میخواهند با ایجاد تشویش و تبلیغات کاذبانه، خویش اذهانرا بطرف دیگر متوجه ساخته و بر جلال آباد حمله نموده وضع امنیتی آنجا را مختل سازند.

تحریك اسلامی خود را در قبال همه، مردم افغانستان متعهد پنداشته که از جمله، آنها مردم مجاهد و شریف ولایات مشرقی میباشد که به این صورت تحریك اسلامی طالبان اوضاع و جریانات را در جلال آباد و اطراف و اکناف آن تحت نظر و مراقبت داشته به هیچ کس اجازه نخواهد داد که علیه منافع علمای شرعی و ملی مردم آنجا دست به معامله و ماجرا جوئی زده امنیت و آ.ل. آنجا را اخلال نمایند. *

ژه په روسیه کی د ...

میلمستون کښی د حضرت احمد امین جان (مجددی) تر مشری لاندی یوه درنده غونډه جوړه شوه. غونډه د قرآن کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت پیل، او د غونډی برخوالو ته د مشرانو علماء، کرامو او مسؤلینو له جملی څخه مولوی سدوزی آغا د خپلو خبرو په لړکښی وویل: دکابل حضرات نه تنها چی د(مجددی) کورنی بلکی د ټول افغانستان بندیان دی په دی اړه د طالبانو اسلامی تحریك ډیر ښه اقدام کړی چی له روسیی نه یی د افغانستان د بندیانو را پریښودلو مطالبه وکړه.

وریسی د کندهار ښاروال الحاج ملامحمد عباس د خپلو خبرو په یوه برخه کښی وویل: اسلامي تحریك کوښښ کوی هغه افغان بندیان که هغه حضرات کرام وی که علماء، کرام او که نور مجاهدین چی د کمونستانو په وخت کښی بندیان شوی دی په ښپړه توګه پلټنه وکړی او درك یی پیدا کړی. وروسته د کابل د حضراتو د خانقا جانشین حضرت احمدامین جان (مجددی) د خبرو په یوه برخه کښی وویل: زه په روسیه کی د افغانی بندیانو په هکله د طالبانو د اسلامي تحریك د مشرانو د کوښښونو او ښه نیت مننه کوم. له هغه وروسته د عالی شوری غړی او د اسلامی تحریك د بهرنیو چارو مسؤل الحاج ملا محمد غوث د اړونده موضوع په هکله خبری وکړی او وی ویل: مونږ او تاسو ټول به په ګډه له روسانو څخه د خپلو بندیانو غوښتنه کوو څو داسی معلومات لاس ته راوړو چی د ملت د اسیرانو د وارثانو لپاره د قناعت او اطمینان وړ وګرځی. په پای کښی د موضوع پر اړوند لازم تصمیمونه ونیول شول.

د ډول ډول وسلو...

د لیندی د میاشتی په ۲۲مه نیټه د پوځی زده کړی په دوام د شینډنډ په ولسوالی کښی(۷۰) تنه مجاهدین د پوځی زده کړی له کورسونو فارغ او بری لیکونه ورکړای شول.

خبریال ورانی لیکی:

چی په نوموړی ولسوالی کښی د پوځی زده کړی یو شمیر کورسونه د شینډنډ د عسکری مسؤل مولوی صاحب عبدالغنی د کوششونو په نتیجه کښی پرانستل شوی ؤ. (۷۰) تنه مجاهدینو له آزموینی وروسته بری لیکونه ترلاسه کړل او خدمت ته چمتو شول.

کابلِ سه حوت

هر کشوری و ملتي در قلب تاریخ و سینه، بی کینه، آن واقعات و حوادثی را ثبت و جای داده که نقطه، عطفی در تاریخ آن کشور و ملت محسوب شده و یا بالاتر از یك کشور به ملتها و کشور ها ارتباط میگیرد و یا به همه، بشریت تعلق اش پیدا میشود که از همچون واقعات و حوادث تاریخ کشور ما غنای به خصوصی داشته و میتوان گفت که افغانستان کشور حادثه ها و جریانات بسیار بزرگی تاریخی در جامعه، بشری بوده که دیگر کشوری و ملتی به ندرت به پایه، آن رسیده میتواند.

بلی انقلاب اسلامی ما که با داشتن روابط و ضوابط شرعی و ابعاد گسترده، جهانی به همه، امت اسلامی و جامعه، جهانی ارتباط میگیرد روزها و ایامی را در حلقه های قیامها و مبارزات مردم خود ، در حافظه دارد و ثبت تاریخ نموده است که نه تنها باعث افتخار برای افغانها بوده بلکه برای همه، امت اسلامی و جامعه، بشری افتخار آمیز و آموزنده میباشد. که از آن روزها و یکی از آن حلقه های پر افتخار و آموزنده تاریخ انقلاب و جهاد اسلامی ما (قیام بزرگ و جهادی سه حوت شهر کابل میباشد) کابل این شهر انقلابها و تمدنها، جهشها و قیامها در قلب آسیا (افغانستان) جایگاه شیر مردان و زنان مسلمان و مؤمن و آشیانه، بازانی بلند پرواز و غیور بوده که هیچ گاه سلطه ئی منافی ایمان و عزت را نپذیرفته اگر تقدیر احیاناً به محك ابتلاء و آزمایش آنها را قرار داده است، به قیمت خون، سرومال (خفافاً و ثقالا) به رفع و زدودن لکه، ننگ و عار از دامان پاك وستره، خود به پای خواسته، قصه ها و حکایتهای غرور آفرین و حماسی بیادگار مانده اند.

کابلیان مسلمان و شجیع به پیروی از اسلاف و نیاکان مسلمان خود به شکل انفرادی و دسته جمعی آن، در راه جهاد و انقلاب اسلامی از هیچ نوع ایثار و فداکاری دریغ نورزیده هزارها تن از پسر و دختر مسلمان و جوان خود را در مقابل کمونیستها و حکومتهای بی ننگ و ملحد آنها قربانی اعدامها و زندانها کرده اند.

و بزرگترین قیام دسته جمعی را علیه متجاوزین روسی و حکومت های دست نشانده، آنها در (سه حوت) با دست خالی در مقابل قشون سرپای مسلح و پر از غیظ، قهر ووحشت روسی با یگانه سلاح بزرگ و عظیمي که هیچ طاغوتی از آن برخوردار نبوده (اللهُ اکبر) به راه انداختند. شجاعانه، حماسه ها آفریدند و قربانیهایی را ثبت تاریخ کردند که برای نسل آینده، کشور اعم از پسر و دختر آموزنده و برای همه، امت اسلامي افتخار آفرین بوده یاد همه، آن پسران و دخترانیکه در این راه بزرگ به شهادت رسیده اند گرامی و جاویدان باد. اما این بار باز تاریخ به حکم تقدیر،کابلیان مسلمانرا به ابتلاء بزرگی مواجه ساخته و آنها را در قید و بند جباران و خداناترسان مجاهد نما، و بی ننگی قرار داده است، که تابع هیچ نوع روابط و ضوابط اسلامی و اخلاقی نمیباشند و تاحال از هیچ نوع ظلم و تعدی بر انفس، اموال، اعراض و نوامیس کابلیان دریغ نورزیده اند. و برای بدست آوردن اهداف شوم و زود گزر شیطانی دنیای خویش از هیچ نوع چل، فریب، خدعه و نیرنگ دریغ نکرده اند، امروز باز همه شاهد بی بندوبار هایی،جمع و تفریق هایی میباشیم که هیچ نوع اصالت اسلامی نداشته و روی هدف مقدس اسلامی و ملی صورت نپذیرفته، بلکه هوسهای شیطانی آنها اوشانرا تحریك داشته تا در صدد یك فاجعه، خونین دیگر شوند و به زعم خویش چند روزی دیگری به حیات ننگین خویش بیفزایند. این همه (ان شا، الله) خیال است و محال و جنون.

تحریك اسلامی طالبان که غرض نجات هم وطنان مسلمان خویش از ایادی کفر، فسق، جور و جفا، قیام کرده وغرض حاکمیت مطلق و سراسری شریعت (محمدی صلی الله و علیه وسلم) به پای خواسته و ادعای خود را در عمل ثابت نموده است از همه شهریان کابل توقع دارد در این مرحله، تاریخی که بندوبازهای شیطانی علیه سرنوشت شما در دست کار است به پای خواسته یاد گذشته گان غیور خویش را تازه نموده در کنار تحریك اسلامی طالبان و به حمایه، اوشان به عمر ننګین اداره، تحت الحمایه، روس ملحد، هندوی مشرك و ایران حسود و فتنه گر پایان دهید. و خداوند قدیر جل جلاله ازین، ناتوان نیست.

مونږ چی کله ...

زمونږ د خبریال دخبرله مخی پدی کښته کی لومړی د قرآن عظیم الشان څو مبارك آیاتونه ولوستل شول وروسته د راغلیو علماء، کرامو په نمایندګی محترم شیخ الحدیث مولوی شیرعلی شاه صاحب، محترم مفتي عبدالرحیم صاحب او محترم مولوی عبدالجبار صاحب په خپل وار سره خبری وکړی او په خپلو خبروکی یی وویل: مونږ چی کله د طالبانو تر قبضی لاندی سیمونه داخل شوو د زیاتی خوشحالی احساس مووکړ او د خدای تعالی قانون مو د خدای تعالی په څنګه کی عملی ولید او په حدیثوکی راغلی دصحابه کرامو (رضی الله عنهم) ځلانده دور را په یاد شو چی هلته به هم د اسلامی ژوند خوند داسی احساس کیده، وروسته د کندهار والی محترم ملامحمدحسن اخند ددوی د راتلو څخه خورا زیاته خوشی څرګنده کړه او د خپلو خبرو په یوه برخه کی ئی وویل: هر ځای په مسلمانانو باندی ظلمونه دی، د ټولو تیریو او ظلمونو په مقابل کی باید دنړی ټول مسلمانان سره یوشی او د کشمیر مجاهدین زمونږ وروڼه دی دوی باید له صبر او استقامت او لویی حوصلی نه کار واخلی ځکه چی د افغانستان غیورو مسلمانانو د صبر او استقامت په نتیجه کی د روسانو امپراتوری دړې وړې کړه او لوی خدای (جل جلاله) د افغانستان غیورو مسلمانانو ته نیکنامی ورپه برخه کړه هیله لرو چی د هندوانو امپراتوری رنګولو فخریه د کشمیر مجاهدینو و ګټی، د ویتا په یوه بله برخه کی وویل که مونږ په خپلو مقدسو لاروکی استقامت وکړو خدای به له مونږ سره د خپل نصرت وعده ترسره کوی. داچی د لوی خدای (جل جلاله) لوی احسان دی چی مونږ او تاسی ئی ددین د خدمت لپاره غوره کړی یو، باید چی د خدای تعالی د احسان شکرانه ادا کړو چی مونږ،ئی ددین خدمت لپاره خاص کړی یو. او د خدمت توفیق ئی راکړی. *

ملی گرایی در خدمت ...

و احیاء مجدد نظام عقیدوی و سیاسی اسلام را در سراسر جهان نوید میداد داخل معرکه ماهرانه، گردیدند و کوشیدند که مجاهدین در یك صف واحد و فشرده تشکل پیدا نکنند، بلکه آنها را به عناوین مختلف سیاسی، قومی، نژادی، لسانی، سمتی به صفوف متعدد تشویق و ترغیب کردند. اتحادیه ها و گره هم آیی های قومی، سمتی، مسلکی و صنفی را به اشکال مختلف تشویق کردند و احیاناً کمك مالی نمودند.

اختلاف و تفرقه های سیاسي و تنظیمی حلقه های جهادی را به کتګوریهای د(بنیادګرا و ملی گرا) تقسیم و تحدید داشته شکل ورنگ بنیادی و سیاسی را خواستند به آن بدهند.

بالاتر از آن، علاقمندی اداره،،توجیه و کنترول مستقیم مجاهدین و قوماندانانرا از طریق اداره های به خصوص خود نشان دادند و آنها را به تشکیل اتحادیه ها و دفتر های جدا از تنظیم ها تشویق کردند و بودجه های گزاف مالی را در اختیار شان گذاشتند، و به این واسطه و طریق ترجیحات و خواسته های مادی و سیاسی را در اوشان تشویق کردند که این حرکت رفته رفته به انحراف شدیدی، جهادی و اخلاقی اکثر قوماندانهای جهادي انجامید و آنها را غلام خواسته های نفسی و ادارات به خصوص اطلاعاتی منطقه و جهان گردانید.

دها ادارات و هسته های به اصطلاح خیریه و امداد رسانی(صحی، فرهنگی، مسلکی، تعلیمی و...) را در دیار هجرت و مناطق آزاد تحت کنترول مجاهدین که عاری از مقاصد سوء و خطرناکی بوده نمیتوانستند، به میان آورند که در میان مجاهدین و مهاجرین بدون کدام مانع و مشکلی به فعالیتهای خود ادامه میدادند و با اکثر قوماندانان داخل کشور ارتباط مستقیم بر قرار کرده به کمك های مالي و لوژستیکی، صحی و فرهنگی آنها می پرداختند و زمینه سفر های خارجی را به اوشان مساعد میساختند و یکی از اهداف عمده، بد این ادارات به اصطلاح کمك رسان و خیریه بادادن امتیاز و معاشهای گزاف و ایجاد فضای تن پروری و راحت در داخل ادارات و مراکز فعالیتهای خود، روحیه، تن پروری و احساس ماده پرستی را تقویه و به فضائل اخلاقی و معنوی صدمه، کلی میرسانیدند والکار ... چیز فهمان و تحصیل یافته های افغانرا از جهاد وخدمت در داخل ادارات جهادی و هجرت بطرف خود جلب و متسلك میساختند، رفته رفته این احساس بد مادی به اندازه، در صفوف مجاهدین ومهاجرین جران تأثیر گذاشت که همه را متوجه خود گردانید و همه بطرف کسب زبان انگلیسی توجه کردند و دها مراکز فرهنگی اجنبی به این ارتباط تأسیس گردید و جوانان از تحصیلات علمی، مسلکی و تخصصی توجه خود را بطرف کسب زبان انگلیسی گردانیدند که به حصول آن که خیلی وقت کمی را میگرفت، امتیاز زیاد مادی را بدست آورده میتوانستند که به هیچ صورت با کسب و داشتن تحصیلات عالي دینی ، مسلکی وساینسی از آن بر خوردار شده نمیتوانستند که این امر و رحجانات مادی متأسفانه و به کمال تأسف کشور ما را در آینده ها از داشتن یك پرسونل مسلکی و علمی با معیار های تقوی و دین داری محروم میگردانید و حرکتی بود بطرف زدودن تقوی، فرهنگ و دین داري و ارزشهای سالم ملی که اهداف عمده، استعمار و به خصوص استعمار صلیبی راتشکیل میدهد.

از طرف دیگر این ادارات اجنبی توانستند افراد و حلقه های سکولر و کمونیست را که در حلقه بندیهای جهادی جای چندانی نداشتند درخود تنظیم و تشکلات از هم پاشیده آنها رابشکلی از اشکال روح تازه بخشیدند.

دها از این قماش توطئه ها را علیه جهاد بکار گرفتند تا استراتیژی مطلوب خود را بدست آرند.

اما توجه اصلی و مرکز ثقل این توطئه های استعمار را شکل دادن تعصبهای قومی، لسانی، سمتی و... تشکیل میداد زیرا اختلاف سیاسی و تنظیمی میان مجاهدین در جامعه، ما آنقدر ریشه های عمیق تاریخی نداشت که وسیله مؤثر و قاطع برای نتیجه گیری استعمار صلیبی و یهودی از مجموعه توطئه های اوشان شود، و از طرف دیگر تنظیمهای جهادی که اکثر اوشان زاده، شرایط این محیط بودند و یا رشد اصلی و بنیادی خود را دراین محیط حاصل کرده بودند با اینکه از تأثیر پذیری این محیط و نقشه های مطرح در اینجا بی اثر مانده نمي توانستند و چشم به رحم و کرم دولت مردان و حلقه های به خصوص اینجا دوخته بودند براي این آماده نبودند که دیده و دانسته به اهداف و خواسته های استعمار تن در دهند و خواسته های آنها را جامه عمل بپوشانند، بلکه در بسیاری از موارد به خصوص وقتیکه ، حل سیاسی قضیه افغانستان در مجامع بین المللی مطرح گردید و مصالحه ملی تحبیب و سایر تحولات باعث میگردید که مجاهدین تن بیك حکومت ائتلافی وسیع البنیاد بدهند و فشار های روز افزون دولتهای منطقه وجهان هم باعث میگردید که مجاهدین تن به این توطئه بدهند اما اوشان مردانه وار از خود درمقابل همه فشار ها مقاومت نشان دادند و آن توطئه ها را ظاهراً دفع کردند. لذا استعمار صلیبی یهودی روی صحنه سازیها ، مانورهای عجیب و غریب به تهوز دادن نظامی و سیاسي بعضی ا زچهره های داخل جهاد اقدام کردند که بیکی ا زاقوام و زبانهای عمده و مهم افغان منسوب میشدند و از این طریق و واسطه ازاحساسات قومی و زبانی اوشان علیه جهاد و وحدت دینی و ملی استفاده نمایند و نگذارند که حکومت اسلامی جهادی بواسطه جهاد وتوسط مجاهدین تشکیل گردد که از آن جمله عمدتاً میتوان مسعود را نام برد که با مهارت هرچه بیشتراز استعداد های مناسب و خوب شخصی و محیطی مسعود استفاده بنفع اهداف به خصوص ضد جهادي برده شد که میتوان فرانسه را در این راستا از سایرحلقه های غربی پیشقدم دانست، پنجشیر جولانگاهمبشرات زیبا روی و طناز فرانسوی به لباسهای نرس،داکتر، ژورنالیست و... بود که از آنها قصه ها و حکایتها بیاد گار مانده که با مهارت خوبی حرفوی و وظیفوی خود ها آنچه از شیر پنجشیر میخواستند بدست آورند، که یکی از آنها پرده از روی وظائف و فعالیت هاي خویش برداشته و کتاب بنام(همبستری با شیر) به رشته تحریر در آورده است. رویداد های پنج شیر و امر آن انسانرا بیاد توطئه ها و مانور های کفار صلیبی و شکار شدن امراء و شهزادګان(غرناطه، اندلس، در اسپنیا،) بدست آنها میاندازد که مبشرات ماه روي تبشیر صلیبی چطور کار امپراطوری اسلام را در اسپنیا در اثر شکار آمر صاحبان آن دیار به پایان رسانیدند و چطور با کمال تأسف از دختران و زنان جوان حرم سراهای دربار به پیمانه، وسیع بشکل نهایت خشونت آور آن بدل خود را گرفتند(انالله...) بلی گفته اند(کاری را که میکنند زنها نمیتواند ولسها) مصداق درست و تاریخی خویش را حفظ داشته است.

فرانسویها که غرق ناز و افتخار بزرگترین انقلاب جهانی که به پایه، ناسیونالیزم وملی گرایی استوار میباشد (انقلاب کبیر فرانسه) و در آن ملی گرایی بحیث یك مکتب با داشتن اساسات مشخص تبارز کرد، توانستند که بامهارت واقعاً پیروزمندانه خود با ایجاد روحیه و نیشه، (ملی گرایی) درشیر پنج شیر آنرا وادار سازند که در پی تفوق جویی زبانندری و تشکیل زعامت تاجك برای حکومت افغانستان و در نتیجه تشکیل و تأسیس (تاجکستان بزرګ) که در یك کنفدریشن متشکل از افغانستان، تاجکستان و ایران شکل میگرفت، بپان خواهد آمد که در صورت تحقیق این خواب گران، ناشدنی و محال نام افغانستان را به خراسان تبدیل داشتنی بودند زیرا نزد آنها کلمه افغان مرداف کلمه پشتون میباشد وآنها متأسفانه با این اصطلاح حساسیت به خصوص دارند که مبین ملی گرایی حاد وشدیدی (سکتاریستی) تاجکی و دری آنها میباشد. دستگاهای تبلیغاتی ویروپاگند غرب با مهارت خوب در مطرح کردن شخصت نظامی وسیاسی مسعوداول بنیادی واصولي را بازی کردند وآنرا قهرمان میدان نظامی جهاد و شخصیت مرکزی سیاسی آینده، افغانستان معرفي میکردند. که در بر آورده شدن اینهدف روسها با غربیها هم نوایی، تفاهم و اشتراك مساعی مشترك پشت پرده، یی داشتند که بعد ها بوضوح معلوم گردید که یعنی بعد از...

ادامه دارد)

رادیو کابل در ...

خط مقدم جبهه ساحات ریش خور میباشد. و چندی قبل اداره، کابل خبر شهادت اوشانرا با پنجاه تن از همسنگرانشان در سرویس خبری شبانه، خود به نشر سپاریده بود، اوشان در این اواخر نزدیك غرض چاپ رساله اش به پشاور آمده اند روز شنبه مورخ ۱۳۷٤/۱۲/۱۲ به دفتر هفته نامه، شریعت تشریف آورده و با هفته نامه، شریعت مصاحبه، خاصی انجام دادند که اینك بدست نشر سپاریده میشود قابل تذکر است که اداره، کاذب کابل که هیچ نوع حقایق و واقعیتها را در بخش خبری و تبلیغاتی خویش در نظر نمیگیرد اگر دروغی بدست نیاورد مجبوراً راستی را هم بدست نشر میسپارد همچنان چندی قبل از سرویس خبری شبانه، خود قتل ملانور خان را بدست مجاهدین تحریك اسلامی طالبان بدست نشر سپاریده بودند که خوشبختانه اوشان در آنوقت در پشاور تشریف داشتند که در مصاحبه هائی باروزنامه، (وحدت) و هفته نامه، شریعت ادعای اداره، کابل را تکذیب و آنرا تبلیغات دروغین اداره، شهر کابل غرض ایجاد تشویش در اذهان مردم مسلمان دانستند.

س : محترم قوماندان صاحب ملامیرمحمد(احمدی) چندی قبل رادیوی اداره، کابل خبر شهادت شما را با پنجاه تن از برادران هم سنگر تان در یك برخورد با ملیشه های اداره، کابل بدست نشر سپاریده که لله الحمد شما را زنده و صحتمند ملاقات مینماییم آیا در باره، شهادت سایر برادران هم ادعاي رادیوی کابل عاری از حقیقت میباشد؟

ج : بلی در آن روز که رادیوی اداره، کابل خبر قتل اینجانب را با پنجاه تن از برادران هم سنگرم اعلان کرد خودم در همان وقت در ریش خور قرار داشتم، در حالیکه در آن روز جنگی و حمله یی در میان نبوده، تنها چهارتن از طالبان بدون قومانده و هدایت مسؤولین روی احساسات و جذبات ایمانی و جهادی خودها بریك پوسته، شوری نظار حمله برده بودند که در نتیجه، آن هشت تن از ملیشه های شورای نظار بقتل رسیده بود.

س : وضعیت مجاهدین (تحریك اسلامی طالبان) در چهارآسیاب و میدان شهر به چه قرار میباشد؟

ج : وضع و حالت طالبان الحمد لله در چهارآسیاب و میدان شهر پوره اطمینان بخش بوده مجاهدین ما با ایمان و قوت و نیروی کامل در مقابل فساد و ظلم جاری در کشور عزیز و برای پیاده ساختن نظام اسلامی، در سنگر های قوی و افتخار آفرین خود در حال آماده باش همه جانبه قرار دارند.

س : اداره، کابل و منابع خبری ادعا میکنند که شما بر شهر کابل حمله، مینمایید، پروگرام شما در این مورد چه میباشد؟

ج : ما یقین کامل داریم که (ان شا، الله) در این روز های نزدیك یك تحولی بزرگی در کابل رو نما میگردد. زیرا مردم شریف و مسلمان کابل از مظالم و فساد های شورای نظار نهایت بتنگ و ستوه آمده اند. و واقعیتهایی که بدست آمده نشان میدهد بعضی از خواهران کابلی ما از ظلم و فساد آنها خود کشی کرده اند (انا لله...) و باید افزود که اکثر قوماندانان و مسؤولین آنها روی عدم اطمینان و اعتماد بر آینده، خود و قسمتی از اوشان روی احساس مسؤولیت دینی و ملی خودها باما در ارتباط میباشند که نوید دهنده ئی پایان عمر ننگین اداره، کابل میباشد.

س : در حملات راکتی که اکثراً مردم ملکی در آن کشته میشوند و یا به جابهای غیر نظامی اصابت مینماید. شما چه میگوئید آیا این حملات راکتی از طرف شما و یا دیگران صورت میگیرد؟

ج : تحریك ما برای این به پای ایستاده و شروع به دعوت و جهاد کرده است که دیگر در افغانستان عزیز از ریختن خونهای بیجا و بی مورد هم وطنان مسلمان ما جلوگیری شود و مردم در زمام داری یك حکومت واقعاً اسلامی و شرعی زندگی آرام و شرافتمندی داشته باشند، دیگر چون هدف و آرزوی ما از بین بردن فساد است، مصئونیت سرو مال مردم از هر نوع دست برد غیر شرعی و غیر قانونی و تأمین و تحکیم نظام اسلامی میباشد، دیگر چطور شده میتواند که مردم بیگناه کابل را هدف راکتهایی خویش قرار بدهیم! این همه، تبلیغات و دسائس شورای نظار میباشد که اکثر مردم به آن پی برده اند.

س : حالت راه های منتهی به شهر کابل از طرف چهارآسیاب و میدان شهر به چه شکل بوده، آیا راهها را شما بسته اید و یا اداره، کابل؟

ج : به این ارتباط مسؤول اصلی محاصره، اقتصادی شهریان کابل اداره، شوری نظار بوده، زیرا ما چند بار اعلان داشته ایم که از طرف تحریك اسلامی طالبان هیچ راه را هی بسته و مسدود نبوده بلکه اداره، شورای نظار راها را به توسط فرش ماین های خود بسته اند چنانچه به خلاص شدن راه میدان شهر اداره، کابل خود اعتراف بسته کردن آنرا نموده رادیوی کابل اعلان کرد که ماین های را که در مسیر راههای میدان شهر کابل قرار داشت پاك سازی کردیم و راه به روی ترافیك بازاست. حالامردم مسلمان کابل وجهانیان قضاوت نمایند که راهها را که مسدود نموده است!

د ګډون بیه	شپږمیاشتنی	کالنی
پاکستان	Rs. 200	Rs. 400
د خلیج هیوادونه	SR. 150	SR. 300
اروپا او امریکا	$: 75	$: 150

یادونه

ښایی ستاسو ایمان په اجازه در نکړی چی دا ډول سپیڅلي پاڼي په ناوړو ځایونو کښي وغورځوی.

(اداره)

SHARIAT WEEKLY

Publisher : Islamic Movment of Taliban of Afghanistan.

Editor -in- Chief : Movlavi Ahmad Jan.

Tel : 840378

PAK - RUPE A/C, CD. No. 1694 -69,

Habib Bank LTD. Tehkal Bala Branch (Code 0267)

Peshawar, Pakistan